
باغو
بنآدشموزے

# زما کتاب زما حق دے


د کتاب نوم: برخه

د شاعر نوم: محمد شېر

قلمي نوم: ښادؔ شموزے

قام: اتمان خېل شموزے

د پلار نوم: حاجي بادشاه شېر

استوګنه: پېښور

پروف ریډر: ساجد محمد شائقؔ

سرپاڼه: جمیل خان

طباعت: اول ځل

شمېر: ۵۰۰ (پینځه سوه)

د چاپ کال: ۲۰۰۹ء

کمپوز/چاپ: ایکسپرټ ګرافکس محله جنګی قصه خوانی پېښور فون: 091-2580309

بیعه: ۹۹ روپۍ

خپرؤنکی: پښتو ادبي اؤ کلتوري ټرون عرب امارات


## د ملاوېدو درکونه

(۱) یونېورسټي بُک ایجنسي خیبر بازار پېښور

(۲) سټار بُک ایجنسي پي آر سي مارکېټ مردان

(۳) رشید بک سیلر ملاکنډ چوک مردان

# ترون

د هغه
فقيرانو اؤ درويشانو
په نوم چې د دين د پاره ئې خپل
ژوند وقف کړے
دے.

ښاد شموزے

# فهرست


| لیک | مخ |
| --- | --- |
| د زړهٔ دردونـه ستا په در | ۱۷ |
| اوروی د اُلـفـت د لېونو | ۱۸ |
| د خُـوبـانو دلداری مې | ۱۹ |
| سـنـدره | ۲۱ |
| ستـا نامه رایادوی راله | ۲۳ |
| زهٔ خپل فطرت له | ۲۴ |
| سـنـدره | ۲۵ |
| شـوخ مـې کړه، رنګ | ۲۷ |
| ځارکهٔ ځان له خپل | ۲۸ |
| سـنـدره | ۲۹ |
| پـه ځـان پسې دې | ۳۱ |
| مـنتظر یم انتظار مې | ۳۲ |
| ستړے یم زهٔ چې ځان | ۳۳ |
| سـنـدره | ۳۴ |
| چـې خپل زړهٔ درنه | ۳۶ |
| کـهٔ پوهېږم نهٔ پوهېږم | ۳۷ |
| مونږه د ترخو اؤ د خوږو | ۳۹ |
| زهٔ په هر دم په هر قدم | ۴۰ |
| تا خپلؤم کهٔ اسویلی | ۴۱ |
| سـنـدره | ۴۲ |
| ستا ستمونو ته هک | ۴۴ |
| چـې په ماښام بنګړو له | ۴۵ |
| چې ستا د ظلم سلسله | ۴۶ |
| مړ شولو تباه شولو | ۴۷ |
| شیش د نزدې ګوزار د | ۴۹ |
| مـا موندلے دے قرار | ۵۰ |
| سـنـدره | ۵۱ |
| نـوم د مینې راته مهٔ | ۵۳ |
| زما د زړهٔ غوښې صنم | ۵۴ |
| ستورو راښکته شئ | ۵۵ |
| څومره چې مست وو | ۵۶ |
| سـنـدره | ۵۸ |
| حېـران کړے لږ ژوندون | ۶۰ |
| ستا حُسن زوره ور دے | ۶۱ |
| نصیحت به مې اول کوؤ | ۶۲ |
| سـنـدره | ۶۳ |
| زما خو دغه یؤ جانان | ۶۵ |
| زهٔ چـې ستا له جفاګانو | ۶۶ |
| مسافر یم څوک مې | ۶۷ |
| سـنـدره | ۶۸ |
| نو ژبه د قلم راله وخت | ۷۰ |
| څوک چې زما نه ستا | ۷۱ |
| تهٔ د خپل حُسن ملکه | ۷۲ |
| نهٔ د خپل ځان نهٔ د | ۷۳ |
| سـنـدره | ۷۴ |
| دا دُنیا دې ستا شی زهٔ | ۷۶ |
| نهٔ ویریږی لېونے | ۷۷ |
| مینه مې کړې ده | ۷۸ |

| لیک | مخ | لیک | مخ |
| --- | --- | --- | --- |
| چې مې په فکر کښې جانان-- | ٧٩ | دا چې سوے سوے------- | ١١٤ |
| سندره---------------- | ٨٠ | شته مئين په مينه--------- | ١١٥ |
| نـۀ ئې ادا وينمه---------- | ٨٢ | مطربه ! بس نۀ کړې-------- | ١١٦ |
| پاګل سړيه ! نشې څۀ له----- | ٨٣ | ساه دې خپله واخله غم---- | ١١٧ |
| جانان خو څۀ کوې دُنيا مې--- | ٨٤ | ستـا لمن صفا ده پۀ-------- | ١١٨ |
| مينه په جار کوئ نفرت مۀ--- | ٨٦ | سندره--------------- | ١١٩ |
| سندره---------------- | ٨٧ | ما چې دې نوم کله--------- | ١٢١ |
| ښه ده چې ړانده‌ئ‌دی ګنی یار-- | ٨٩ | دا دې دُعـا وه کۀ ښېرې وې-- | ١٢٢ |
| ما د مينې په لار پرېږده چې--- | ٩٠ | چې په سترګو دې ويشتل--- | ١٢٣ |
| بيا دې په مينه ځان سولی--- | ٩١ | سندره--------------- | ١٢٤ |
| سندره---------------- | ٩٢ | سندره--------------- | ١٢٦ |
| ستا چې وعدې داسې پخې--- | ٩٤ | چاربېته-------------- | ١٢٧ |
| چې مسافر شوم ما نصيب--- | ٩٥ | چاربېته-------------- | ١٢٩ |
| خـدايه خبر کړې مينه------ | ٩٦ | ستـا مينه زړۀ کښې نغاړم--- | ١٣١ |
| سندره---------------- | ٩٧ | طرحی نظم------------ | ١٣٣ |
| ورو ورو به دې راټول کړم تۀ--- | ٩٩ | د ګل غوندې وطن کښې---- | ١٣٥ |
| تۀ چې ئې وائې ګله دا------ | ١٠٠ | ګـنګوسے مې اورېدلے کۀ--- | ١٣٦ |
| اوس مې وړې ارادې ځوانې--- | ١٠١ | سندره--------------- | ١٣٧ |
| سندره---------------- | ١٠٢ | پـخت د پښتنو دے له----- | ١٣٩ |
| نۀ پوهېږمه په ځان-------- | ١٠٤ | يوه کليمه وائی خو جُدا نن-- | ١٤١ |
| خلقه روا ده ناروا نۀ کوّم---- | ١٠٥ | مينه---------------- | ١٤٣ |
| سـاقی زما قاضی شو------- | ١٠٦ | غُربت--------------- | ١٤٥ |
| سندره---------------- | ١٠٧ | بـرغيزه سندره---------- | ١٤٨ |
| لاړم مسـافر شوم له نظره مې-- | ١٠٩ | وايـه ګله ستا څنګه تېرېږی-- | ١٥١ |
| ځـان رانه واخله خو جانان--- | ١١٠ | سندره--------------- | ١٥٢ |
| ځـوانی خپله مې د حُسن--- | ١١١ | سندره--------------- | ١٥٣ |
| سندره---------------- | ١١٢ | دُعا---------------- | ١٥٥ |

# شهزاده ښاد اؤ د شعر فن يې

شاعري يؤ داسې صلاحيت دے چې فقط د خدائے تعالیٰ په وركړه تر لاسه كېږي۔ پاتې شوه خبره د ښۀ شعر ليكلو، نو د دې په شا، څو خبرې محرك وي لكه علم (پوهه)، زيار، تجربه، د ټكو ذخيره اؤ بيا د هر ټكي په سم يعنې مناسب ځائے كارؤل۔ اؤ دغسې نور هم څۀ محركات شته چې د هغو په پلوشو شعر ځلاموي۔

دغه محركات د يؤ بل سره تړلي دي د يؤ بل د پاره لازم و ملزوم دي د مثال په توګه د يؤ شاعر علم (پوهه) شته خو د ښۀ شعر ليكلو د پاره زيار نۀ كوي د ځان نه خو له نۀ وباسي۔ يا ورسره د ټكو ذخيره ډېره ده خو د هغې ټكو په سم سم ځائے باندې په كارؤلو نۀ پوهېږي نو ارو مرو به د هغۀ شاعري كمزورې وي۔

بل، هوښياران وائي چې په كوم لوښي كښې څۀ وي نو د توئېدو په وخت ترې نه هم هغه څۀ توئېږي۔ مطلب دا چې د دغه پورته ذكر شوو خبرو سره سره چې د يو شاعر په زړۀ كښې د مېنې سمندر څومره په غورځنګ وي۔ يا يې د وطن اؤ قام د پاره ولولې تاندې اؤ سپېځلې وي۔ ضميـر يې بېدار اؤ دې حساس وي۔ ډېرو لوړو ژورو سره مخ شوے وي اؤ څومره څومره يې د ژوند تودې سړې ليدلې وي۔ نو هغه هومره به يې شعر خوږ اؤ موثر وي اؤ د لوستونكو اؤ اورېدونكو د زړونو تل ته به په خپله ځان وركوزوي۔

ښاغلي اباسين يوسفزى صيب د ښۀ شعر د تعريف د اس واكې د ادب په فراخه مېدان كښې ډېرې په لنډيو راتاؤ كړې دي۔ هغوى وائي چې ښۀ شعر هغه دے چې تۀ يې واؤرې اؤ تاته ياد شي۔ هم دغسې ښاغلي ښاد د ښۀ شعر ليكلو خپل زړه پورې زيار كړے

دے اؤ څومره ذخيره چې ورسره د ټکو ده نو د هغې په سم ځائے کارونويې وس بر دے په ژوند ډېرو لوړو ژورو سره مخ شوے دے اؤ په زړهٔ کښې يې د خپل محبوب د مينې سمندر په غورځنګونو دے۔

د ښاد ساده شعرونه ځانله د زړهٔ راښکون صلاحيت لرى لکه:

”ما خبروى ګودر ته تلو نه مخکښې
پېغله منګے اخلى اؤ ټنګ وركوى

ښاد د خپل محبوب د مينې ډېر ورږے دے اؤ ورته وائى چې:

دومره مينه راکړه چې لار نهٔ وينم
سر مې کړه په شاړو لېونے مې کړه

ښاد دا يو بل ښهٔ کار کړے دے چې د پښتوژبې ځنې ټکى متروک کېدو ته نزدې وى اؤ هغه يې د ژوندى ساتلو هڅه په دا رنګ کړې ده لکه:

شګوم نهٔ يم خو په چُپه خلهٔ عادت يم
اوس ځنګېږم را نه جوړ د فکر ټال دے

يا وائى چې:

مونږه په يوه پوهېږو مونږيُو د يوې خلق
سم به شې رقيبه! د غرګو خبرې پېژنو

ښاد چې څومره پورې زهٔ پېژنم نو هغه يو خود دار پښتون دے سترګې يې ترې دى اؤ هغه په دې خبره کښې صادق دے چې وائى:

په ګېډه اوږے خو په نوس باندې موړ يمه زهٔ
دا مې عادت دے اډرقى ماړهٔ ماړهٔ وباسم

د ښاد په شاعرى زيات رنګ د مينې خور دے اؤ هغه دا ګڼى چې د ژوندون ټوله مزه د مينې له مخه ده۔ د مينې خاتمه هغه د ژوند د مزې خاتمه ګڼى۔ وائى چې:

څنګه انکار د يار له مينې وکړم
اوس به د ژوند هغه مزه ختمه

ښاد د خپل پښتون قام سره د زړهٔ د تله مينه کوی اؤ د پښتنو په موجوده خرابو حالاتو په سلګو سلګو ژړا کوی اؤ په دغه سلګو کښې وائی چې:

مړ شولو تباه شولو پښتون زما
غرق شولو رسوا ششولو پښتون زما
جګه يې شمله وه په نړۍ مدام
څنګه په ژړا شولو پښتون زما

خو بيا وروستو خپل مرام ته رسېدو د پاره د پښتون قام په حقله يو زبردست تجويز وړاندې کوی وائی چې:

ځان به په دې ټوله نړۍ ؤمنی
وينې کهٔ په ربنتيا شولو پښتون زما

ښاد د ژوند په لار د طريقت قائل دے اؤ هم په دې لار ځان مرام ته رسؤل غواړی هم په دې کتاب ''برخه'' کښې ځاے په ځاے بلها شعرونه په دې رنګ ليک دی۔ لکه چې وائی:

په دې لاره باندې تلی، منډې ښکاری
د پيرانو په منډ، منډ بړده روان يم

ښاد باندې کله کله محبت دومره زور اور شی چې د هغهٔ وجود د محبت د ډېر زور اور والی تاب ونهٔ لرلے شی اؤ هغه خپله ماتې په کاواکه خلهٔ داسې بيانوی۔

په بدن يمه کمزورے ورته ښاد
راګوزارېږي کړم زلمے دے محبت

ښاد خپل محبوب ته وائی چې په ځرګنده خو ستا مئينان ډېر دی خو تهٔ لږې د زړهٔ سترګې وغوړوه اؤ دا وُګوره چې په حقيقت کښې

ستا د عشق رنځور څوک دے وائی چې: "ته د پيو مجنون اؤ په مجنون کښې لږ تميز وکړه ـ څوک دے چې تش وخت تېروی څوک په زړه داغلے دے".

د ښاد د ژوند زياته برخه د عربستان په مسافريو کښې تېره شوې ده۔ اؤ تېرېږی نو ځکه يې په شاعری کښې دغه رنګ هم ډېر جوت دے۔ لکه چې وائی:

لاړم مسافر شوم له نظره مې پناه شولې
هېرې دې وعدې کړې اے جانانه بې وفا شولې

يا دا چې:

ما د خپله لاسه وکړل په خپل ځان
لاره غوره مې ازغنه د سفر کړه

يا دا چې:

دا دې دُعا وه کۀ خېرې وې دربه در شومه زۀ
په خړو خاؤرو د عربو، مسافر شومه زۀ

د ښاد په دې "برخه" کښې د سندرو هم پوره برخه شامله ده۔ تاسو به يې په دې کتاب کښې ولولئ۔ واقعی چې د ښاد سندرې ډېرې خوندناکې دی۔ ما ورته وئيل هم دې چې ته خپل فام تول په توله سندرو پلؤ راوګرځوې نو زما خيال دے ځان ته به د سندرې په مېدان کښې يؤ ځانګړے مقام جوړ کړئ۔ ځکه چې ښاد په جدا جدا ډؤل، په ښائسته انداز اؤ له مينې ډک زړۀ په خوښ سره کومې سندرې ليکلې دی هغه به د خلقو د خوښيدو نه بغېر پاتې نۀ شی۔ څۀ يې د قابلو، خوش اوازه سندرغاړو په اوازونو په کېسټونو کښې په مارکيټونو کښې موجودې دی لکه چې وائی:

چې مې کلي ته سپرلے اؤ جانان راشي
بیا رانجۀ، بنګړي دې راوړه بنجارې
چې زخمي زړګي له هغه درمان راشي
بیا رانجۀ بنګړي دې راوړه بنجارې

ښاد شموزے یؤ مخلص انسان، صادق ملګرے، خود دار پښتون، خوارې کښې زلمے، د ژوند لارو خبر، د قام په غم غمژن اؤ د مصنوعیت نه لرې یؤ ساده سړے دے۔ زۀ یې د شهزاده په نوم بلم ځکه چې ښاد په خوئي شهزاده دے۔

ښاد شموزے په حاجي قریش کلي کښې په کال ۱۹۸۰ء کښې د حاجي بادشاه شېر کره پېدا شوے دے۔ د نیکۀ نوم یې ګل خان دے۔ پنځم جماعت یې د قرېش کلي نه، اتم یې د غارو کلي نه اؤ نهم جماعت یې د G.H.S سخاکوټ ملاکنډ ایجنسي ته پاس کړے دے۔ اؤ بیا عربستان ته مسافر شو۔ شاعري یې د کال ۲۰۰۴ء نه شروع کړې ده۔ ډېره موده یې په ریاض ښار کښې تېره کړې ده۔ اؤ نن سبا په شارجه کښې مسافر دے هلته د اوسپنې نینې چېچي اؤ خپله خواري مزدوري کوي۔ دا "برخه" یې وړومبۍ شعري ټولګه ده نوره یې تاسو په خپله ولولئ۔

په ډېره مینه
ساجد محمد شائق
صدر پښتو ادبي ټولنه
تحصیل تخت بهائي
ضلع مردان اؤ ایډیټر
"وطن" پېښور

# يؤ نظر د ښادؔ په شاعرۍ

ښادؔ شموزے زمونږ د نوی کهول يؤ زيرک اؤ بېدار پښتون زلمے دے۔ د مسافرۍ تيندکونو د عاشقۍ تودو سړو اؤ د غربت څپېړو ورته ژوند ښودلے دے اؤ د شعر په کارئې لگيا کړے دے۔

ستا ستمونو ته هک بک دے زړگے
دومره ئې مه زوره نازک دے زړگے

ښادهؔ نو اوس به ئې تهٔ چرته گورې
ستا نه چې ښکلو پسې ورک دے زړگے

د پښتو د شعری روايت سره سم د قام خوبۍ، حُسن پرورۍ اؤ د ژوند ژواک د ريښتونې ترجمانۍ پوره پوره هڅه ئې د شاعرۍ د رغونې توکی دی۔ د شعر په دنيا کښې ئې دا کتاب وړومبے قدم دے۔ دغه د هلکوالۍ د جذبو، سوچونو اؤ فکرونو غنچک دے۔ هيله ده چې دا کتاب به په ادبی دنيا کښې د ښادؔ د ښهٔ پېژندگلو سوب وُگرځی۔

په دې ټولگه کښې لوبې اؤ چاربېتې هم شته خو د غزل برخه درنه ده۔ اؤ ځائے په ځائے پکښې خوارهٔ خوارهٔ شعرونه په لاس راځی۔

نــه پــه تـقـوىٰ نـه پـه شېخى کښې وو زور
دا خـو بــس تـه وې چـې ګـويان دې کړمه
دا تــمــاشــه يو ځـلـې بـيـا جـوړه کـړه
خـلـق حيـران شُـو چـې حيـران دې کړمـه

مننه
په ډېره مينه
اباسينؔ يوسفزے
چيئرمېن پښتو څانګه
اسلاميه کالج پېښور پوهنتون
نېټه ۲۰ اکتوبر ۲۰۰۷ء

# مسافر ښادٙ

مســــــــافـــــری بـــــده بـــلا ده
د یار د غمه پکښې روغ لېونے شومه

نــهٔ پـوهـېـږم چـې دا پـورتـه تپه کله تخلیق شوې ده۔ خو ډېره لـرغـونـې ټپـه ده۔ د هغه دؤر مسافر خو ډېر ښهٔ وو چې یواځې د یار د غـمه به مسافری کښې لېونی کېدل۔ نن صبا خو مسافری کښې د یار غـم، د وطـن غـم ، د بچـو غم اؤ نور داسې ډېر غمونه دی چې سړے لېـونـے کـوی نه خو د زړهٔ تسمې ورله شلوی۔ مسافری اؤ په مسافری کښـې جُدائی د وُسپنې نینې چیچل دی خو یا د ننی دؤر مسافر پهٔ زړهٔ کـلک دی اؤ یـا ئـې هسـې ښېځهٔ د لېونتوب نه خپله لمن ژغورلې ده۔ ګنې جُدایی کښې خو کهٔ سړے لېونے نهٔ شی نو سودائی ضرور شی۔

کــــهٔ لېـونـے درپســـې نـــهٔ شوم
خـو سـودائـی به خامخا درپسې شمه

زما په خیال کهٔ د نن دؤر مسافر لېونی نهٔ دی نو سودائی ضرور دی۔ ولـې چـې سُـود اؤ سـوداګری کښې ډېر لوے فرق دے۔ سوداګر ځـان شتـهٔ کـوی اؤ نور خواروی خو سودائی خلق نور شتهٔ کوی اؤ ځان خـواروی۔ د قـربـانی دا جذبه کهٔ په وطن مېشته سُود خوَرو سوداګرو کښـې راپېـدا شـی نـو بیـا زمـونږ په وطن کښې د څهٔ کمے دے چې ځـوانـان دې بـل وطن ته مزدوری اؤ مسافری له ځی۔ ښاغلی محمد شېر ښادٙ شموزی هم د ژوند زیاته برخه پهٔ مسافری کښې تېره کړې ده۔

هـغهٔ چې د مسافرۍ په تندغرۍ چاپېرچل کښې کومه تنده محسوس کـړې ده هـغـه ئـې د خپـلـو خولوپهٔ څاڅکو ماته کړې ده۔ محنت ئې کړے دے، مزدوري ئې کړې ده۔ د خپلو بچو ، خپلو خپلوانو ، يارانو ، دوستانو د خېـرازۍاؤ ښېګړې دپاره ئې سختې ګالـلی دی خو هغه د پښتو متل دے چې "خواروی نوپه هندوستان هم خواروی" دا متل هـم د هـغـه وخـت دے چـې کله به زلمی مزدورۍله هندوستان ته تـلهٔ۔ هر څوکهٔ نن صبا د عربو مسافری زمونږپه برخه رسېدلې ده خو د دې متل اطلاق پرې کېږی۔ ښاغلی ښادﷺ شموزی لکه زما بائيد چې د رحمان بابا د دې ښکلی شعر نه سبق اخستے وی چې :

د دلبـرو صـدقـې لـره ئـې غـواړم
هسـې نـه چـې په دُنيا پسې زهيريم

ما هم چې ډېره مسافری اوکړه اؤ تش لاس کلی ته راغلم نو په دې شعر وئيلو مجبورشوم !

صـادقهﷺ! پرېږده چې اوس ژوندوی د تاوانه سره
ګټـه مـې وُکړه خو د ګټې څوکيدارنهٔ شومه

د عـربـو مسافرۍ ډېر خلق شتهٔ کړهٔ خو يؤ نيم پکښې اوس هم لکه زما اؤ ښادﷺ در په ديکې ګرځی۔زهٔ به دا ووايم چې :

د هــر چــا خپـلــه خپـلـه بـرخـه
د چــا ګـلان د چــا ازغی وُرسېدنـه

خـو کـلـه کله ازغی چې سـړے د کوم اذيت نه تېروی اؤ د درد

خوږو سره ئې آشنا کوی هغه په ګلونو کښې چرته وی اؤ بیا په تېره تېره شاعر چې څومره درديږي نو هغه هومره رابرڅېره کيږي۔ د ښاغلی محمد شېر تخلص کۀ هر څو ښادؔ دے خو د ښادۍ سره اشنا نۀ دے۔ د ازغو څوکو ئې احساس سکونډلے دے اؤ دردونه ئې د زړۀ په لمن کښې رانغښتی دی اؤ بیا د دغه دردونو څرېکې ئې شعرونه کړی دی۔ د پردی وطن مسافری، د مسافرۍ تودې سړې، د ژوند د ملګرو جُدائی ، د خپلو بچو یاد اؤ د خپل وطن مئین دا هر څه ئې لړیا ډېر په خپله شاعرۍ کښې ځائے کړی دی۔ څنګه چې د قدغن په چاپېرچل کښې لفظونه معنې نۀ بائیلی نو دغسې په مسافرۍ کښې شاعر خپل ځان نۀ بائیلی۔ ښاغلی ښادؔ شموزے هم خپل ځان د خپل فن پۀ حواله ساتلے دے۔ دا بیله خبره ده چې د کتاب په چاپ کولو کښې د تُندۍ نه کار اخلی۔ باید چې د نورو مسافرو ملګرو کتابونه ئې لیدلی دی اؤ د هغې له امله په غورځنګ کښې راغلے دے چې دے دې هم کتاب چاپ کړی۔ مونږ چې د هغۀ د جذبې غورځنګ ته ګورو نو هر کلے ئې کوو چې د پښتو ادب په ګلدسته کښې به یؤ ګل زیات شی اؤ ګل کۀ هر څنګه وی زړۀ اؤ نظر ئې قبلوی۔

زۀ د ښاغلی ښادؔ شموزی شعرونه ځکه نۀ رانقل کوم چې تاسو ئې نېغ په نېغه وُګورئ اؤ خوند ترې واخلئ۔

په درناوی

حُسین احمد صادقؔ

۱۵/ ۶/ ۲۰۰۷ء

☆

د زړۀ دردونه ستا په در کېږدم
خپلې څنګلې ته چې سر کېږدم

د خپله ځانه پکښې ورک شمه زۀ
ذهن چې ستا په تصوّر کېږدم

توان مې باقي د الوتلو نۀ وی
د غم په جاله چې وزر کېږدم

جانانه غم چې دې امبار شی په ما
لکه په سر باندې چې غر کېږدم

هر څوک چې فقر استغنیٰ خوښوی
زۀ ښادؔ به زړۀ ورته په ؤر کېږدم

● ● ● ● ● ● ●

☆

اوروی د اُلفت د لېونو برخه
شنهٔ لوګی وی تل د سپېلنو برخه

نورو ځان پوره کړو ګټه پېژنی
خواره وی همېش د پښتنو برخه

خلق ازاد ګرځی اؤ مزې کوی
رسی زما تل د زولنو برخه

پرېږده چې ګرېوان سپرلی ته وُشلوم
څهٔ خوبه وی څهٔ د رنګینو برخه

ښادهٔ بختوروُو پخوانی خلق
شوه تالا والا د وُسنو برخه

• • • • • • •

☆

د خُوبانو دلداری مې ده بائیللې
چې د ژوند سره خواری مې ده بائیللې

ما رانغښتی وُو هر څۀ یاره یۀ داؤ کښې
تولــه تاله جواری مې ده بائیللې

په خوبونو کښې کابل اؤ کشمیر غوارم
مسلمان یم بیداری مې ده بائیللې

دا چې اچؤم پۀ سترګو کښې ئې سترګې
نۀ ویریږم ناچاری مې ده بائیللې

چې څۀ وایم پۀ څګه پښتو کښې وایم
پردی ژبه بازاری مې ده بائیللې

بیـــا پښتــون بچـــے بـــه نـــهٔ کـوی ســوالونـــه
خـو افســوس چــې خــودداری مــې ده بــائیللې

اوس بـــه کـــر د مـــحبـــت کـــوومـــه ښـــادهٔ
د انســـان نـــه بیـــزاری مـــې ده بـــائیـــلـــلـــې

• • • • • • •

# خوشحالی

جـانـانـــه راتـــه وایـــه مـالـــه چـا خوشحالی راکړه
نـــهٔ تــا کـړمـــه خــوشــحــاله نهٔ دُنیا خوشحالی راکړه

دا ستــرګــې ژړغــونــې دی نــظــر پــه چا خوړ نهٔ شو
چـې نـــهٔ رالـــه اشــنــا نـــهٔ نـاشــنـا خوشحالی راکړه

• • • • • • •

# سندره

چې سرې لمبې د اُور شِندی او څه پرواه نه کوی

د ځان تپوس به له جانانه کوم

داسې چې ما په اور سېزی او څه پرواه نه کوی

د ځان تپوس به له جانانه کوم

زه سره سپرلی غواړم جانان ترې سرې لمبې تاوَوی

ځکه مې تن او وطن اُور اخستے

زه نېغه لار غواړم هغه کرخې کږې تاوَوی

ځکه مې تن او وطن اُور اخستے

چې پښتونخوا نوم ورانوی او څه پرواه نه کوی

د ځان تپوس به له جانانه کوم

داسې چې ما په اور سېزی او څه پرواه نه کوی

د ځان تپوس به له جانانه کوم

را لــه د صبــر تـعـويـذونـه جوړئ دې حـالـت کښــې
چې لېونتوب مې په سر او ختلو
راتــه د خـلـقـو پېـغـورونــه جوړئ دې حـالـت کښــې
چې لېونتوب مې په سر او ختلو
د تــن مــې غـوښــې شـوکـوی اؤ څــهٔ پـرواه نــهٔ کـوی
د ځان تپوس به له جانانه کؤم
داســې چــې مــا پـهٔ اور سـېـزی اؤ څـهٔ پـرواه نـهٔ کوی
د ځان تپوس به له جانانه کؤم
لــکـــه د وانــې مــې بـادئ پــه راشپـېـلـونـو بـانـدې
داسې ئې سپک کړمه اؤ سپک مې ګڼی
ورتــه غـوږېـږمــه کــهٔ ښــاد يم پــه رېګونو بـاندې
داسې ئې سپک کړمه اؤ سپک مې ګڼی
زړهٔ مـې د پښـو د لانـدې ږدی اؤ څــهٔ پـرواه نـهٔ کوی
د ځان تپوس به له جانانه کؤم
داســې چــې مــا پـه اورسـېـزی اؤ څـهٔ پـرواه نـهٔ کوی
د ځان تپوس به له جانانه کؤم

• • • • • • •

☆

ستـــا نـــامـــه رايـــادوی رالـــه ډېر ښـــهٔ دی

کـــهٔ فـــکـــرونـــه مـــې هـمـــه واړه واړهٔ دی

خـدا‌ے خبـر چې د وصـال خـوند به ئې څهٔ وی

چـــې د نـوم پـــهٔ يـاد کـښـې دومـره ئـې خوارهٔ دی

چـــې د شـــونډو سـر لـــه راشـی اسـوېلـے شـی

څـــنـــګـــه ووايـم چې څـــهٔ زمـــا پـــه زړهٔ دی

دا چـــې دواړه پـــرې جـــنـګـېږو نـــهٔ پـوهـېږو

تـــهٔ ئـــې ژاړې زهٔ ئـــې ژاړم نـو بـيـا څـــهٔ دی

د دُنـــيـــا د کـــاروزګـــاره مـــې اُوبـــاســـی

ستـــا يـــادونـــه دی بـــس بد دی اؤ کـهٔ ښـهٔ دی

څـوک چـې تـوان ئـې د زغملو لـری ښـادٓ شی

د جـــانـــان د نـــوم تـــرخـو ســره خـوارهٔ دی

• • • • • • •

☆

زهٔ خپـل فـطـرت لـه تـربـيـت په شان د يار ورکوم

ځـکــه انــا لـــه مــې د زهرو جـام پـهٔ جـار ورکوم

مــنـم د ژونـد هـره لـحـظـه مې خوشحالی تختوی

خـو دې ژونـدون لـه بـه تـېـلـه په سر د دار ورکوم

نفس مې بې وسه شو هېڅ وس ئې په ما نهٔ رسېږی

هـر يـؤ ارمـان لـه مـې پـه مـخ باندې ګوزار ورکوم

ښـــهٔ پـــه سـره سـيـنـه مې دا يو فېصلـه کړې ده

ټـول چـاپېـرچـل لـه به ښکلا ستا د رُخسار ورکوم

بـلـهـا بـلـها سختې ورکوټـی غوندې زرهٔ تېرې کړې

نـوم د جـــانـان ورتـه ښـادِ اخـلـمـــه قرار ورکوم

● ● ● ● ● ● ●

# سندره

پـه خود کښې راشه بې خودی ته مۀ ځه

مـۀ کـوه ضـد د عشق سیالی ته مۀ ځه

زړګیــه ! مــابــه لیـونے کـړې پکښــې

ښــکــلــی د زړۀ دردونــه څــۀ پیـژنـی

بـــس غــوځېـدۀ د زړونـو ښـــۀ پیـژنـی

نـور د نـــاتـــرسـو آ بــادی تـه مـۀ ځـه

مـۀ کـوه ضـد د عشق سیالی ته مۀ ځه

زړګیــه ! مــابــه لیـونے کـړې پکښــې

هـلتــه د ښـۀ اؤ نـه جواب نشتـه دے

خپـلـې مـرضی لـه انتخاب نشته دے

داســې مـــاتـحتــې ازادی تـه مـۀ ځـه

مـۀ کـوه ضـد د عشق سیالی ته مۀ ځه

زړګیــه ! مــابــه لیـونے کـړې پکښــې

هلته خوندونه هر ماښام ځلیږی

د هر مئین په لاس کښې جام ځلیږی

خُمار کړه ځان خو بربادی ته مۀ ځه

مۀ کوه ضد د عشق سیالی ته مۀ ځه

زړګیه! مابه لیونے کړې پکښې

ښادۀ وائی صحرا ته ځوږیږو دواړه

د دې دُنیا نه بس بیلیږو دواړه

ښۀ دے خپل غم د چا ښادی ته مۀ ځه

مۀ کوه ضد د عشق سیالی ته مۀ ځه

زړګیه! مابه لیونے کړې پکښې

• • • • • • •

☆

شوخ مې کړه، رنګ رنګ مې کړه، سپرلے مې کړه
ستـــرګـــې راخـــوړې کـړه راژونــدے مــې کـړه

دومــره مـيـنــــه راکـړه چې لار نـــهٔ ويـنـم
ســـر مـــې کـــړه پــــه شاړو لېونـے مــې کـړه

نـــورپـــــه ځـــان پوهېږم چې سوزېږمـــه
تـــاؤ مـــې کـــړه د ځـــانــه سپېلنے مــې کـړه

زهٔ خـــو د عـــا لَـــم د ستـــرګــو پـــر پــوتـم
تــهٔ پــهٔ خپلــه ګـوتــه کښې غمے مې کړه

خُـــدايــــه د ګـل مـيـنــه خـلـق ډېره کړی
ســور د چـــا پــه زُلـفو کښــې رېدے مې کـړه

څـنـګـه دې د ښادَ پــه مـيـنـه شک وکړو؟
نـــهٔ شـــوم کـــهٔ پـــه دار ګلـه پـردے مــې کـړه

● ● ● ● ● ● ●

☆

ځار کۀ ځان له خپل صنم کړم نۀ ئې منی
کۀ راپنډ ئې پۀ سر غم کړم نۀ ئې منی

بیا غوړونه ئې ډک کړی دی غماز
کۀ زرګاه ځله قسم کړم نۀ ئې منی

وخته ولې دې په ګوته کړمه زۀ
سم چې ستا سره قدم کړم نۀ ئې منی

هسې نۀ کۀم بې ځایه نور سوالونه
سترګې ډکې کۀ د نم کړم نۀ ئې منی

په اخلاص ورله ورکوم په لاس کښې لاس
کۀ یارۍ کړم اؤ ځان پړ کړم نۀ ئې منی

زړۀ خو ډېرې تلوسې راپارولی
کۀ شاد جوړ په ځان ماتم کړم نۀ ئې منی

● ● ● ● ● ● ●

# سندره

د ملاکنډ ښتر ښتر فکرونه　　زمونږ د سیمې بختور فکرونه
په خَفه زړونو خوشحالي راولي　　په پښتونخوا باندې سپرلي راولي

که ځوروُلي دي وختونو خلق
تل ئې سندرو کښې تازه ساتلي
که دردَ ولي دي غمونو خلق
دغه دردونه ئې خوارهٔ ساتلي

د ژوند خوږو نه شُو خبر فکرونه　　زمونږ د سیمې بختور فکرونه
په خفه زړونو خوشحالي راولي　　په پښتونخوا باندې سپرلي راولي

چې ژړېدل اؤ کړېدل به اول
ورته ئې مینه محبت اوښودل
چې پاڅېدل اؤ غورزېدل به اول
ورته چلونه ئې د طاقت اوښودل

اوس راویښ شوی په سحر فکرونه زمونږ د سیمې بختوّر فکرونه
په خفه زړونو خوشحالی راولی په پښتونخوا باندې سپرلی راولی

خزان وهلے باغ به بیا تازه شی
څاڅکی د مینې وریدلی پکښې
مړاوے ارمان به د هر چا تازه شی
ما د اُمید تېغې لیدلی پکښې

راټوکیدلی لر اؤ بر فکرونه زمونږ د سیمې بختوّر فکرونه
په خفه زړونو خوشحالی راولی په پښتونخوا باندې سپرلی راولی

مونږه د خپل ارمان قتلونه کوو
خو په نړۍ کښې سر اوچت ګرځوو
نۀ چانه ویره نۀ سوالونه کوو
مونږه په زړونو کښې غیرت ګرځوو

چاڼ کړی ښاد ترې معتبر فکرونه زمونږ د سیمې بختوّر فکرونه
په خفه زړونو خوشحالی راولی په پښتونخوا باندې سپرلی راولی

• • • • • • •

☆

پــــه ځان پســې دې ژړولــے شـم خـو ژړه ئـــهٔ مـنـی
پــه ژړهٔ دې ګـوتــې ښـخـوَلــے شـم خـو ژړه ئـهٔ منی

مـــا ایــزده کــړی دی د ښـکـلـو نـــه دا تـول چلونـه
بـــې اُوره اور درلـــګـــوَلـــے شـم خـو ژړه ئـــهٔ مـنـی

ګـرېـوان دې اوتـړه راځــه زمـا پـه څنګ کښې کښېنه
د خپـل مـحـفـلــه دې شـړلـے شـم خو ژړه ئـهٔ منی

دا خـو مې ژړهٔ دے چې سینه کښې یې درله ځاے درکړے
ژړهٔ دې د ژړه ئـــه شـوکـولـے شـم خـو ژړه ئـــهٔ مـنـی

دلتـه رواج دے چـې مـئـیـن بـاندې ظلمونه کېږی
ستـم پـــه تـاهـم زهٔ کـولـے شـم خـو ژړه ئـــهٔ مـنـی

ښـــادَ پـــه راستی درلـــه د لارو نـــه ازغـی لـرکـوم
ګـنـــې شپـولـونــه جـوړولـے شـم خـو ژړه ئـــهٔ منی

● ● ● ● ● ● ●

☆

منتظریم انتظار مې لا جواب کړه
په زرګاؤ یؤ نظر کاته حساب کړه

د رُخسار ستر دې مات کړه احسان وکړه
خاکه جوړه مې د فکر په کتاب کړه

ستا د حُسن لېونی خو دلته ډېر دی
ما د دغه لېونو سره حساب کړه

ماشوم خیال له مې پاخۀ رنګونه ورکړه
سپرلے خور د تصوّف پرې د شباب کړه

د دُنیا د نورو مینو نه ئې موړ کړه
زما زړۀ په خپله مینه کښې بې تاب کړه

چې باران د رحمتونو را وریږی
خُدایه شادّ لره قطره قطره دریاب کړه

● ● ● ● ● ● ●

☆

ستړے یم زهٔ چې ځان ته پام وکړمه
لږ خو مې پر پړده چې ارام وکړمه

تسمې تسمې بدن به تاله راوړم
دا به د نذر اهتمام وکړمه

مخ به مې هر حالت کښې ستا مخ ته وی
الله دې نهٔ کړی چې حرام وکړمه

زهٔ ئې غلام یم چې مئین دے په تا
په سر اؤ سترګو به ئې سلام وکړمه

ماله په بڑخه کښې دې مینه راکړه
اطاعت ستا به زهٔ مُدام وکړمه

ستا لیونو کۀ لیونے کړمه زهٔ
زهٔ به ئې ډیر زیات احترام وکړمه

ما ته سبق د خود داری راکوی
ښادَ به دې فخر په کلام وکړمه

• • • • • • •

# سندره

بیا صفتونه څو څو ځل به دې کړم
خپل پېښوره هله خپل به دې کړم

چې ماښامونه دې رنګونه راوړي
سحر د امن پیغامونه راوړي

چې غریبان دې ماښامونه ژاړي
دې غریبانو له ماښام ښائسته کړه
پېغلې د خپل عزت غمونه ژاړي
دغه غمونو له انجام ښائسته کړه
بیا د پېرس نه شمار اول به دې کړم
خپل پېښوره هله خپل به دې کړم

چې ماښامونه دې رنګونه راوړي
سحر د امن پیغامونه راوړي

تهٔ خو زما د زړګی خپل ښائست ئې
خو ستا په خاؤرو کښې خړ پړ یمه زهٔ
اؤرم د خلقو د غزل ښائست ئې
خو ستا په مینه باندې مړ یمه زهٔ
لکه د ګل سور په اوربل به دې کړم
خپل پېښوره هله خپل به دې کړم

چې ماښامونه دې رنګونه راوړي
سحر د امن پیغامونه راوړي

منم په ټولو باندې بَرخو تهٔ ئې
خو ظالمان دې په زړګی ساتلی
د پښتنو زړونو دلبر خو تهٔ ئې
خپل دې تل خوار کړل تا پردی ساتلی
اوس دې تصویر له رنګ بدل به دې کړم
خپل پېښوره هله خپل به دې کړم
چې ماښامونه دې رنګونه راوړی
سحر د امن پېغامونه راوړی
نهٔ دې صفت نهٔ دې غیبت کؤمه
ستا د حالاتو جنګ به یاد وی زما
په هر ډګر دې حفاظت کؤمه
تا چې کړم ښاد نو نوم به ښادؔ وی زما
د پښتونخوا د شملې ګل به دې کړم
خپل پېښوره هله خپل به دې کړم
چې ماښامونه دې رنګونه راوړی
سحر د امن پېغامونه راوړی

• • • • • • •

☆

چې خپل زړهٔ درنه قربان کړم، بیا به وُمنې کهٔ نهٔ
ګرانه ورک چې درنه ځان کړم بیا به وُمنې کهٔ نهٔ

چې کچکول کړمه په غاړه، در په در درپسې ګرځم
لټ په لټ چې ټول جهان کړم، بیا به وُمنې کهٔ نهٔ

دا چې لرې لرې ګرځې، لږ مې خواته رانزدې شه
چې قائل دې په ایمان کړم، بیا به وُمنې کهٔ نهٔ

لیونی راته خوارهٔ دی، زهٔ قربان د لیونو یم
تا چې شمار پکښې جانان کړم، بیا به وُمنې کهٔ نهٔ

چې په ټال د تصّور دې، ځنګوؤم اؤ تهٔ ټالی خورې
درله جوړ به دې خیال وران کړم، بیا به وُمنې کهٔ نهٔ

چې د خپل زړګی په وینه، یاره ستا مینه ګُل ګُل کړم
چې پُوره دغه ارمان کړم، بیا به وُمنې کهٔ نهٔ

د ښادؔ سترګو ته راګوره چې نشې ترې راڅڅیږی
ستا چې هم خُمار چشمان کړم، بیا به وُمنې کهٔ نهٔ

● ● ● ● ● ● ●

☆

کــــهٔ پـوهېـږم نـــهٔ پـوهېـږم چــې وبــال دے
مــا لـوستـلـے ستا د مړو سترګو هر سوال دے

چُپــه خُـلــهٔ دې راتــه ډېـر ډېـر هر څـهٔ وائی
ستـا د چُپــې خُـلــې خو دغه لوے کمال دے

لیــونــی شـی ورپسـې پــه غـرونـو سـر شـی
چې تـصـویـر ئې چـا لـیدلے د جمـال دے

بـرابـر ئـې پــه ښـائسـت کښې نور څـهٔ نشتـه
کـهٔ سپـوږمی ده پـه مثـال ئې د مخ خال دے

دا خپـل خـیـال اؤ خپـل زړګے مې ورله بوځی
ښـهٔ پوهېږم چې خور کړے ئې غټ جال دے

تــاؤ راتــاؤ شـم چــاپېــرچل راتــه تک توروى
ستــا پــه لــورچې قدم کېږدمــه مشـال دے

شـګــوم نــهٔ يم خــوپــه چُپــه خُلهٔ عادت شوم
اوس ځــنــګېــږم رانـــه جــوړ د فــکــر تـال دے

زهٔ خــو وايــم چــې دا خپــل ځــان درنــه ځارکړم
تهٔ هم وايه څهٔ دې زرهٔ دے څهٔ دې خيال دے

کــهٔ ظـــاهــرپـــه ســرســرتوريم نو زهٔ ښـادٓ يم
پــه بـاطـن کښې يې خورکړے په ما شال دے

• • • • • • •

# نېستى

قسـمـت وې دواړه اوسېږئ په يؤ کور کښې
پـــه مـــا ډېـــره زوروره وه پـــه زور کښـــې

نــور د کــټ لــه پـــاڅېـدو ئــې وويستمــه
دې نېستى نــه بــه خلاصېږمه په ګور کښې

• • • • • • •

☆

مــونــږه د تــرخـــواؤ د خــوږو خبـرې پېــژنــو
مـونـږه کـلـی وال يُــو د جــرګــو خبـرې پېـژنو

چـرتـه د جـانـان ویـنـا اؤ چـرته د نصیب وینا
مـــونـــږه د پستـــواؤ د ځـــګـو خبـرې پېـژنـو

څـهٔ کـهٔ مسـافـر يُـو رنـګینی زمونږ نه لرې دی
بـيـــا هـم د ګـودراؤ د مـنـګـو خبـــرې پېـژنو

مـونـږه پـــه یوه پوهیږوُ، مـونـږ یُـو د یوې خلق
سم بـــه شـې رقـیبـــه ! د غـرګـو خبرې پېژنو

ښاده نـادانـی وه ګـنـی سترګو خو خبرې کړې
مـيـنـې کـړو هوښیار اوس د زړګو خبرې پېژنو

● ● ● ● ● ● ●

☆

زهٔ پـــه هـــر دم پـــه هـــر قـــدم لېـونـے
مـــيـــنـــې پـــه څـــهٔ دې آخـر کـړم لېـونـے

تــول انســـانـــان چـــې سره مـيـنــه کـوی
هـــــر بـــچـــے نـــهٔ دے د ادم، لېـــونـــے

دا زهٔ بـــدل شـــوم کـــهٔ جهـــان بـــدل شـــو
خــلــق هــغـــه دی ځـــان گـڼـم لېـونـے

زهٔ کـــهٔ سپـــرلـــے اؤ رنـــگـيـنـی خـوښـوم
ورتـــه مـــې نـــهٔ پـرېږدی ستـا غـم لېـونـے

د خپـل گـريـوان پـه ځـاے سينه چې شلوی
دا خـــويـؤ ښـــادٓ دے ستـــا د چـم لېـونـے

● ● ● ● ● ● ●

☆

تـا خپـلـؤم کــۀ اسـویـلـی سـاړۀ سـاړۀ وُبـاسـم
ښــۀ پــه هُـنـر هُـنـر ګـونډی بـه دې لـه زړۀ وُبـاسم

جـانانه ښکلـے شان تصویر دې نوی رنګ کښې اخلم
د زړۀ لـــه کـــوره تـــصـــویـــرونـــه دې زاړۀ وُبـــاســـم

د چـا پـــه لـمـســـه دې ګُـمـان د بې وفا کړے دے
زۀ خـــو د خپـــلـــو ارمـــانـونـو نــه چــاړۀ وُبـــاســـم

چـــې د غـــربـــت ســـنـدرې نـۀ وایم نو څـۀ وکـړمـه
د ژړګـی بـــړاس خـــو بـــه اخـــر دلتـه پـه څـۀ وُبـاسم

ستـــړے ارمـــان راتـــه ذره ذره پـــه زړۀ پـــر پـوتـو
وائـــی خـــواږۀ تـــراخـــۀ دردونـــه درنـــه زۀ وُبـــاســـم

پـــۀ ګېـډه وُږے خـو پـــه نـوس بـاندې موړیمـه زۀ
دا مـــې عـــادت دے اډرقـی مـــاړۀ مـــاړۀ وُبـــاســـم

زمـــا د ستـــرګـو د خـــامـوش سوال ئـې جواب راکوؤ
و یــــل ئـــې اودۀ شـــه ښـــادۀ زۀ درنـــه واړۀ وُبـــاســـم

● ● ● ● ● ● ●

# سندره

مـــا چـــې د غـــنو پـــه پـولـو راکـــارېږي

مـــاشـــومـــه مـيـنـــه پـــه ازغـــو راکـــارېږي

زړهٔ بــــه زمــــا ذره ذره کـــړي ګـُـلـــې

خـيـال دې ښائست ته رسولے نهٔ شم

د زړهٔ د کـوره دې ويستلــے نــهٔ شم

څـهٔ لـه مـې داسې په کمځو راکارېږي

مـــاشـــومـــه مينـه پـه ازغو راکـارېږي

زړهٔ بـــه زمـــا ذره ذره کــړي ګـُـلـې

لا مـې اظهـار د مينې کړے نهٔ دے

ازغـو، بـدن مې وينې کړے نهٔ دے

د دار پـــه ســـر مـــې پـه رسو راکـارېږي

مـــاشـــومـــه مينـه پـه ازغو راکـارېږي

زړهٔ بـــه زمـــا ذره ذره کــړي ګـُـلـې

څهٔ به خوندونه د ځوانۍ واخلمه
ستا نه چې مینه لېونۍ واخلمه
ماله کړ پوانه به ترڅو راکاږې

ماشومه مینه په ازغو راکاږې
زړهٔ به زما ذره ذره کړې ګُلې

ښاده! راګونه د نغمو مهٔ نیسه
ژوند مې د مینې په لمبو مهٔ نیسه
احساس مې ولې په لمبو راکاږې

ماشومه مینه په ازغو راکاږې
زړهٔ به زما ذره ذره کړې ګُلې

• • • • • • •

# تلاش

تورو تیارو کښې رڼا سپینه ګورم
کرکه مې نهٔ لګی زهٔ مینه ګورم

چې پهٔ غورځنګ شی د غیرت په ډګر
د پښتونګ له هغه وینه ګورم

• • • • • • •

☆

ستا ستمونو ته هک بک دے زړګے
دومره ئې مۀ زوره نازک دے زړګے

د يار د حُسن په ډولۍ پسې ځی
څومره ساده ښکلے ناؤک دے زړګے

اوس هم نازونه د حَسينو غواړی
زۀ که بوډا يمه هلک دے زړګے

بغير له ظلم ئې بل کار نشته دے
ما ته د خپل کلی ملک دے زړګے

ښادۀ ! نو اوس به ئې تۀ چرته ګورې
ستا نه چې ښکلو پسې ورک دے زړګے

• • • • • • •

☆

چې په ماښام بنګړو له شرنګ ورکوي
په سوز اؤ ساز غزل له رنګ ورکوي

نشه نشه مې کړې د یار کوڅه کښې
مېنه مې زړهٔ له جام د بنګ ورکوي

زړهٔ اؤ ځیګر ورته په پښو کښې کېږدي
مئین جانان له ډالۍ څنګ ورکوي

ما خبروي ګودر ته تلو نه مخکښې
پېغله منګے اخلي اؤ ټنګ ورکوي

چې څوک ئې واؤري نو نغمه نغمه شي
غزل د ښادؔ زړونو له ترنګ ورکوي

● ● ● ● ● ● ●

☆

چې ستا د ظلم سلسله ختمه شی
په مرګ دې مړ شم چې قیصه ختمه شی

څنګه انکار د یار له مینې وکړم
اوس به د ژوند هغه مزه ختمه شی

پښتون یم، داسې خو کېدلے نۀ شی
چې به زما د سر نشه ختمه شی

تیندک چې وُخورمه د ژوند لارو کښې
آخر نصیب ته مې غصّه ختمه شی

ښادّهٔ! وعده چې ئې شوګیر زېږوی
جانان مې را نۀ شی اؤ شپه ختمه شی

● ● ● ● ● ● ●

☆

مـــړ شــولــو تبـــاه شــولو پښتون زمـــا
غــرق شــولــو رُســوا شــولو پښتون زما

مُهــر د طـــالــب پـرې لـګيدلے دے
لـــر اؤ بـــر تـــالا شــولــو پښتــون زمـــا

دلتــــه د نـــفـــرت هـــوا راغــلــې ده
بـيـــا جُــدا جُــدا شــولــو پښتـــون زمـــا

جـګـه ئــې شـمــلــه وه په نړۍ مدام
ټـنـګـــه پـــه ژړا شــولو پښتون زمـــا

تُــوره ځـلېــده به ئې په مېدان باندې
يـــاد بـــه خـــامخـا شولو پښتون زمـــا

مخکښې شهزاد ګان اؤ بادشاهان به وو
اوس ټـــنـګـــه ګـدا شولو پښتون زما

ننګ ئې وو غیرت ئې وو پخوا
اوس خو په ګډا شولو پښتون زما

ځان به په دي تولـه نړۍ وُمنی
ویښ کۀ په رښتیا شولو پښتون زما

غواړی یؤ جرګه د اتفاق سره
ربّ ته په دُعا شولو پښتون زما

نوے نسل بل یؤیؤ ابدالی غواړی
ښادۀ اوس رضا شولو پښتون زما

● ● ● ● ● ● ●

## فلسفه

چرته مقروض د امریکې ګوډ نۀ شی
ګنې قرضه به ئې بیا څوک خلاصوی
د پولیو څاڅکی هر ماشوم له ورکړئ

● ● ● ● ● ● ●

☆

شیش د نزدې ګوزار د لرې کوم
دوه درې خبرې ملغلرې کوم

څوک چې پوهېږي راشي کښېني ورته
زهٔ همېشه د کار خبرې کوم

بیا به دا نهٔ وائې خبر نهٔ وومه
تل اشارې درته له د برې کوم

زهٔ تاواني ښهٔ یم په تله د عشق
تول ستا د برخې به د غورې کوم

دا زندګي خو د یؤ څو ورځو ده
د شهادت په لور وزرې کوم

ناست یم یوازې خو یوازې نهٔ یم
فکر مدام ښاد د ملګرې کوم

• • • • • • •

☆

مـا مـونـدلـے دے قـرار نـاقـــرارۍ کښـــې
ګـنـی شتـــه دے دغـــه دواړه پـــه یـــارۍ کښـې

کـــۀ حـقـیـر حقیر راګـورې خـو فـقـیـریـم
حـــاصـل کـړے دا مـقـــام مـې پـه خوارۍ کښې

څـوک چـې زړۀ سـاتـی، بـې غـمـه کړی خوبونـه
غـلا خـو تـل د زړونـو کـېـږی بېـدارۍ کښـــې

کـــۀ دیـدن لـــره جـوړه لاســونـــه نـیـسـم
خـونـد ئـــې لا پـکښـــې زیـاتېږی پـه زارۍ کښـې

ښـادۀ سـتـرګـولـه خُـمـــارپـه بیعـه مـۀ اخلـه
کـــۀ نشـــه ده خـو پـرتـــه ده خـود دارۍ کښـــې

● ● ● ● ● ● ●

# سندره

چې د ځوانۍ حُسن دې زور وُنيوهٔ

ماله دې زړه په زړهٔ کښې کور وُنيوهٔ

خو لېونۍ مينه دې رانهٔ کړله

هسې عبث مې خپل وژلے زړګے

تا چې په بل باندې بائېللے زړګے

لمبې لمبې شو تن مې اور ونيوهٔ

ماله دې زړهٔ په زړهٔ کښې کور ونيوهٔ

خو لېونۍ مينه دې رانهٔ کړه

په کومه لاره چې تېرېږمه اوس

زهٔ د خپل سورې نه وېرېږمه اوس

لويؤ وړو خُلهٔ کښې پېغور وُنيوهٔ

ماله دې زړهٔ په زړهٔ کښې کور ونيوهٔ

خو لېونۍ مينه دې رانهٔ کړه

د خپلــه ځــانــه نــاخبر ګرځمــه

څــهٔ لیــونــے اؤ ســربــر ګــرځمــه

شــونډو لــه غــمــه مــې پاړ توروُنیوهٔ

مــالــه دې زړهٔ پــه زړهٔ کښــې کورونیوهٔ

خــو لیــونی میــنــه دې رانــهٔ کـړه

لا وائی ښادٓ ئـې څـهٔ بـرباد خو نهٔ ئې

تـهٔ مــې مــریــد ئې څهٔ مراد خو نهٔ ئې

دومــره دې میني زړهٔ کښې شورونیوهٔ

مــالــه دې زړهٔ پــه زړهٔ کښــې کورونیوهٔ

خــو لیــونی میــنــه دې رانــهٔ کـړه

• • • • • • •

☆

نوم د مینې راته مهٔ اخله توبه ګار شوم
چې چور چور مې دا خپل زړهٔ کړو نو قلار شوم

دا زما د وَس خبره نوره نهٔ ده
روغه څټه مینه غواړی زهٔ بیمار شوم

چې حساب شوم په ټولګی د فقیرانو
ما خو نهٔ غوښتو دیدار خو طلبګار شوم

څهٔ خاموشه شان چپې راباندې راغلې
نور دیدن ته تینګیدے نهٔ شوم ګوزار شوم

لارې ډیرې خو د تیښتې راښکاره وې
خو پښتون یم تیښته نهٔ کړم ګرفتار شوم

ځان مې روغ کړ نهٔ، منزل رانه خطاء وو
لیونے چې شوم نو هله زهٔ په لار شوم

شاد ویشتلے شی د نخښې مینځ ښکاری دے
خو په یؤ نظر کښې څنګه زهٔ ستا ښکار شوم

• • • • • • •

☆

زمـــا د زړهٔ غــوښــې صــنــم وُخــوړې
څــــهٔ ئـــې دروغــو څــهٔ ستـم وُخــوړې

مــاوې پــه چُپــه خُلـهٔ بـه وخـت تېـروُم
دغـــه وعـــدې رانـــه ستـــا غـم وُخـوړې

پـــه ژړا، اوښــکــو، سـلـګـو ژونـد تېـروُم
رنـګـیـنــې شپـې مــې پـه مـاتم وُخوړې

یـوُ ځـل بــه روغ شـی دا چـاوُدلـے زړګـے
نــخښــې د زخـم مــې مـرهـم وُخـوړې

ښـادهٔ دهـوکــه ئـې پــه وعدو نـهٔ شې نور
چــې ستــا ګـیـلــې ئـې پـه قسم وُخوړې

• • • • • • •

☆

ستورو راښکته شئ چې ښکلے څوک دے
ښایم دُنیا ته ما منلے څوک دے

ستاسو ښائست خو د نیمګړې شپې دے
په شپه اؤ ورځ دا ځلیدلے څوک دے

په هر قدم چې زما زړهٔ درزَوِی
دغه په ښکلو کښې ښاغلے څوک دے

نور به د تورو سره سپین نهٔ ګڼوم
په توره شپه مې سپین لیدلے څوک دے

ښادٓ چې داوُونه د خپل سر کیښودل
بائیلهٔ یې ځان خو دهٔ ګټلے څوک دے

● ● ● ● ● ● ●

☆

څومره چې مست وو دومره خوارئې کړمه
زړهٔ کهٔ صفا وو خوداغدارئې کړمه

کهٔ عمری قېد دے په سینه کښې زما
د ځان تابع ئې کړم مدارئې کړمه

نن ئې په ډک محفل کښې بیا ښکاره کړم
څومره استاذ دے چې فنکارئې کړمه

په غرېدلو سترګو ما نهٔ لیدهٔ
زړهٔ چې نظر اوکړو په لارئې کړمه

چې ملامته ورته ځان ښکارېدو
ښکلی ته، نن د ځان واکدارئې کړمه

د محبت له شوره ځارئې شمه
زۀ کۀ او دۀ وُوم خو بېدارئې کړمه

نرے نرے لوګے ترې ورو ورو ختو
عشق چې لمبې شو نو انګارئې کړمه

څنګه دا خپل زړګے جُدا کړم له ځان
ښادؔ وائی د ځان سره بیمارئې کړمه

• • • • • • •

# غرض

نن چې ئې غاړه راله کلکه راکړه
ما وې خلوص اؤ مینه شته په دُنیا
وئیل انتخابی نخښه مې یاده ساته

• • • • • • •

# سندره

ښکلے چې راشي کلے اُور واخلي

بيا مې خاموشه مينه شور واخلي

دغه لمبو کښې لوغړن ګرځمه

د خندا ډکه خُلهٔ مُسکي راوړي

کلي ته ډېرې خوشحالي راوړي

دغه ادا مې زړهٔ کښې کور واخلي

بيا مې خاموشه مينه شور واخلي

دغه لمبو کښې لوغړن ګرځمه

راوړي يادونه پخواني راته

بيا شي وختونه لېوني راته

زړهٔ مې نشه شي داسې سور واخلي

بيا مې خاموشه مينه شور واخلي

دغه لمبو کښې لوغړن ګرځمه

ورتــه د میـنــي پــه نظر ګورمـه
زړهٔلــه درمـان ښـکـلـے اکثر ګورمـه
پــرهــر پــرهــر زړهٔمـي ټکوروا خلی
بـیـا مـي خـاموشه مینه شورواخلی
دغــه لـمبـوکښـي لوغړن ګرځـمـه

ښـکـلـوئـي دومـره کـړو برباد زړګـے
څنګ به راغونډ شی اوس دښادؔ زړګـے
چـي ښـکـلـی وُویـنـم نو زور واخلی
بـیـا مـي خـاموشه مینه شورواخلی
دغــه لـمبـوکښـي لوغړن ګرځـمـه

• • • • • • •

# نــصـیــب

بــــس دے اودهٔشـــه اوس بـــه څـــهٔ پـــاڅیږي
چــرتـــه بـــه بـیـــا نــصـیبـه تــهٔ پـــاڅیږي

پــــه مــــا شــــوي تیــــري د وختــونــو چپــــي
اوس کـــهٔ پــــاڅیږي اؤ کـــهٔ نـــه پـــاڅیږي

• • • • • • •

☆

حېــران کــړے لېـږژوندون لــه ډېـر ســامــان یم
څـــهٔ بــه یـوسم څـــهٔ بــه وایمـــه حېـران یــم

خُـــدایـــه وَس رالـــــه د بـدو نــور رامـــهٔ کــړې
زهٔ پـــــه خپـلــوکــړو بــدو پښېـمــــان یـــم

وختــه څـومــره مـکــرژن ئـې چـې دهوکــه شم
شـوم سپـیـن بږیـرے زړهٔ کښـې وایمـه لا ځوان یم

پـــه دې لاره بــانـدې تـلـی مـنـډ ئـې ښـکـاری
د پــیـرانــوپـــه مـــنـډ، مـنډ بږدمـــه روان یـم

اے سپـرلـیـــه ! لږ شـــان مـرستې لـه مې راشـه
ښـادٓ تـــراوســـه د خـزان مُـشـت و ګـرېـوان یــم

● ● ● ● ● ● ●

☆

ستا حُسن زوره ور دے تماشې ورننباسی
زما غمژنو سترګو ته نشې ورننباسی

د سترګو په کُنجونو کښې مې ناستې شوګیرې دی
سبا به شی کۀ څومره تورې شپې ورننباسی

خیالونه دی د ښکلی لیونی رانه تاوېږی
دا زړۀ رالره راوُباسی چې نېزې ورننباسی

په مائې د دوزخ له ویرې مخکښې توبه کړې
نو څنګه مې زړګی ته سرې لمبې ورننباسی

اے ښاده! د چا سترګو کښې دې سترګې اچولی
خوبونه ترې اوباسی شوګیرې ورننباسی

• • • • • • •

☆

نصیحت به مې اول کوؤ هر چاته
اوس زما د عقل څانګه شوه راماته

چې غماز ته مې د زړهٔ وئیل حالونه
ویم چې ماته کړم په کاڼی خُلهٔ میراته

هغه شوندې په مُسکا چې اموخته وی
مجبوری نهٔ ئې زهٔ جوړې کړم ژړا ته

په مزه مزه خیالونه مې رانغاړی
حیرانیږم ستا د ښکلو سترګو غلا ته

دلته څوک د بل په غم نهٔ غمژن کیږی
د زړهٔ حال دې ښادهٔ مهٔ وایه دُنیا ته

• • • • • • •

# سندره

دا چې بورنېږمه رپېږمه زۀ
نورلېونے به شم پوهېږمه زۀ
د زړۀ په سترګو مې جانان ليدلے

خوب مې د سترګو تښتېدلے دے
چې مې زړګے ورپسې تلے دے
په تورو شپو څکه ژړېږمه زۀ
نورلېونے به شم پوهېږمه زۀ
د زړۀ په سترګو مې جانان ليدلے

ظالم وختونو راګېر کړے يمه
په لېونو کښې ئې شمېر کړے يمه
تل په فکرونو کښې اوسېږمه زۀ
نورلېونے به شم پوهېږمه زۀ
د زړۀ په سترګو مې جانان ليدلے

د مینې اُور دے چې بلېږی په ما
لمبه لمبه هسې غوړېږی په ما
ترخوبه دغسې سوزېږمه زهٔ

نور لېونے به شم پوهېږمه زهٔ
د زړهٔ په سترګو مې جانان لیدلے

ګام په ګام لار کښې تیندکونه خورمه
په هر ډګر د ژوند غمونه خورمه
لکه څانګو هسې څنګېږمه زهٔ

نور لېونے به شم پوهېږمه زهٔ
د زړهٔ په سترګو مې جانان لیدلے

ښادهٔ ښادی دې په نصیب کښې نشته
د ژوند سپرلی دې په نصیب کښې نشته
لاړې ملنګ شوې اوس پوهېږمه زهٔ

نور لېونے به شم پوهېږمه زهٔ
د زړهٔ په سترګو مې جانان لیدلے

• • • • • • •

☆

زما خو دغه یؤ جانان دے زړۀ پرې مۀ بدوه
ماته د ټول جهانه ګران دے زړۀ پرې مۀ بدوه

راسره غوښه کۀ رشته کړې قلاربږ.مه نه
محبت نوم زما ایمان دے زړۀ پرې مۀ بدوه

د هار غرمه کښې کۀ په دې کوڅو کښې ځم راځمه
د لېونتوب مې دا دؤران دے زړۀ پرې مۀ بدوه

خیر دے کۀ نن ئې ما تپوس د چا په خُلۀ وُکړلو
زما د زړۀ کور پسې وران دے زړۀ پرې مۀ بدوه

درله راؤړمه سپین سبا، په توره شپه کښې ځمه
په شادؔ غلط دا ستا ګُمان دے زړۀ پرې مۀ بدوه

• • • • • • •

☆

زهٔ چې ستا له جفاګانو ځنې تنګ شوم
خپله یاره د خپل ځان سره په جنګ شوم

چې رقیب اؤ جانان بیا سره یؤ ځاے شول
زهٔ په نورو لاړمه ملنګ شوم

اوس د وخت طوفان اثر رابانديې نهٔ کړی
زهٔ پخپله یؤ دریاب شومه غورځنګ شوم

شاعری چې مې نغمه نغمه خوره کړه
زهٔ پخپله ټنګ ټکور شومه یؤ ترنګ شوم

اوس به رسمه منزل ته کهٔ خداے کاندی
شادهٔ زهٔ د مور اؤ پلار په دُعا رنګ شوم

● ● ● ● ● ● ●

☆

مسافریم څوک مې نشته وطن بل دے
زۀ بُلبُل زما ارمان د وطن ګل دے

د قسمت د لاسه ژاړم شعر لیکم
نن په لاس کښې مې کاغذ قلم لا بئیل دے

یو انسان دلته د بل په غوښو پائی
خدایه! دا خو ستا نظام نۀ دے بدل دے

نن مې بیا په زړۀ ورېږی ستا یادونه
ګلستان چې مې جوړ شوے له ګوګل دے

ښاده بس کړه خپله خاورۀ خپله موروی
باقی خپل وطن ته څه اختیار دې خپل دے

● ● ● ● ● ● ●

# سندره

مـــاپيـــرزونـــي چې پـــه چـــا كـولـي
مســـخـــرې هـــغـــه بـــې وفـــا كـولـي
نـو مـئـيـنـتـوب مـې لېونتوب واخستو

په داسې حال كښې زړګے څنګ په سورشي
چې يـؤ نېستـى اؤ بـلـــه ميـنـه زور شى
دا مســـخــــرې غـــريبى بيـــا كـولـــې
مســـخـــرې هـــغـــه بـــې وفـــا كـولـي
نـو مـئـيـنـتـوب مـې لېونتوب واخستو

نـــهٔ مـــې نشـــې اؤ تمـــاشـې غوښتلـې
نـهٔ مـې لـه خدايه داسې شپې غوښتلې
چـــې شـــوګېـــرې مـــې تـر سبـا كـولـې
مســـخـــرې هـــغـــه بـــې وفـــا كـولـي
نـو مـئـيـنـتـوب مـې لېونتوب واخستو

په دې سودا کښې پخپل سر نۀ وُومه
ګډ بې ګودره په ګودر نۀ وُومه
دا خو قسمت لوبې په ما کولې

مسخرې هغه بې وفا کولې
نو مئینتوب مې لېونتوب واخستو

شاده چې شک ئې په ایمان وُنۀ کړې
چې په سودمنه مینه زیان وُنۀ کړې
خوږې خبرې ئې رښتیا کولې

مسخرې هغه بې وفا کولې
نو مئینتوب مې لېونتوب واخستو

• • • • • • •

☆

نــوژبـــه د قــلـم راالــه وخـت مــاتــه کړه
د زړهٔ یــــوه خبـــره مــــې تړپــــه نـــــهٔ شـــوه

نــامـــه د انـقـلاب چـــې ځـلـمو شاتـه کړه
د خــاورې پښتـونخـوا لـمـنــه سره نـهٔ شوه

بـیـا هسـې خـو سپـیـن بـړیـرو ژونـد تمام کړلو
چې ختـمـــه ئـې قـیصـه شولـه پوره نـهٔ شوه

چـا بـنـدې نـهٔ کـړې لارې د غـربـت پکښــې
خـوشـحـــالــه پــه اختـر هـره کوڅـه نـهٔ شوه

استــاذې خـــو د مـــخـکښــې نـــه راغـلــې وو
تـــراوســـه پـورې ختـمـــه ئـې لانجـه نـهٔ شوه

پــــه بــیــلـــه بـیلـــه لارلـو پښتـون شـادهٔ
راغــونـډه ئــــې نـړۍ تـه یـوه جرګه نهٔ شوه

• • • • • • •

☆

څـوک چـې زمـا نـه ستـا دیـدن شـوکوی
لـکـه چـې غـوښـې مـې لـه تـن شـوکـوی

چــې شــی رایــادې ئــې جـلـوې د حُسـن
سـترګـو نـه خـوب مـې مـاسخوتن شوکوی

زهٔ چـې سـتـا نـهٔ شـوم د هېـچـا نهٔ شومـه
دا بــې وســی رالــه بــدن شــوکـوی

پــه تـصـوّر کېښـې مـرګ لـه غـاړه ورکړم
فـکــر دې مـانــه ځـنـکدن شـوکوی

زهٔ لېـونــے پـکـښــې ستــا رنګ ګـورمـه
سـتـا بـې نیـازی شـاد لـه چـمـن شـوکـوی

• • • • • • •

☆

تـهٔ د خپـل حُسـن مـلـکـه، زهٔ د خپل فکر بادشاه یم
بـیـا زمـا اؤ سـتـا جـوړیږی تـهٔ زمـا ئې اؤ زهٔ ستـا یم

تـا چـې مـانـه لـرې بـاسـی دا دُنـیـا مـې په کار نهٔ ده
ځـکـه نـهٔ سـاتـم پـرواه ئـې لا پروا لـه دې دُنیـا یم

سـتـا عـاشـق ته ورنزدې شم ستا د حُسن تپوس اوکړم
وائـی مـونـږه پـرې فـدا یُـو نـو زهٔ هـم فـدا پـه تـا یم

سـتـا پـه نوم کړمه خېرات، ستا په نوم باندې ئې غواړم
سـتـا پـه در کښـې چـې ولاړیـم تـهٔ غنی اؤ زهٔ ګدا یم

چې دې زهٔ روغ لیونے کړم څنګه شادّ شوم پوهه نهٔ شوم
دا شـادی کـهٔ نـاشـادی ده لاس پـه زنـه پـه سودا یم

● ● ● ● ● ● ●

☆

نـــهٔ د خپـل ځـــان نـــهٔ د جهـــان دې کـړمـه
عشـــقـــه ! پـــه کـوم پـلـۀروان دې کـړمـــه

نـــهٔ پـــه تـقـوىٰ نـــهٔ پـــه شـېخۍ کښـې وو زور
دا خــو بـــس تـــهٔ وې چــې ګــويـان دې کړمـه

د ســـود ســـودا چـې مــې پـــه زيـان واخستــه
وختـــه بـــې وختـــه ســرګـردان دې کـړمـــه

دا تـــمـــاشــــه يــۀ ځــلـې بـيــا جـوړه کـړه
خـلـق حيـران شُــو چــې حيـران دې کـړمـه

اوس تـــخـيّــل مـــې پـکښـې مـــا ويــروی
د داســـې مـــيـــنـــې بـــنـــديوان دې کـړمـــه

لېـــونـــے نــــهٔ وو لېـونـے بــــه شـی ښــاد
داســـې چـــې ســـر پــــه بـيابـان دې کـړمـــه

• • • • • • •

# سندره

د بل وطن په ښکلاګانو باندې مړ جانانه
راشه زمونږ سيمې سپرلے نيولے
د ښکلو ښکلو خنداګانو باندې مړ جانانه
دلته کښې هر ګل ځان مُسکے نيولے
زما په دغه خړو خاؤرو پېرزو کېږې چرته
راشه جنت وطن دے زما
ستا نه به هېريم خو زما نه تهٔ هېرېږې چرته
غم لړزولے چې بدن دے زما
د مستې مينې اداګانو باندې مړ جانانه
راشه زمونږ سيمې سپرلے نيولے
د ښکلو ښکلو خنداګانو باندې مړ جانانه
دلته کښې هر ګل ځان مُسکے نيولے
چې نهٔ راځې نو مهٔ راځه نورې وعدې مهٔ کوه
ستا دروغژن حالونه نهٔ شم وئيلے
بس دے خبرې راسره نورې خوږې مهٔ کوه
د زرهٔ غمژن حالونه نهٔ شم وئيلے
زما د مينې آرزوګانو باندې مړ جانانه
راشه زمونږ سيمې سپرلے نيولے
د ښکلو ښلکو خنداګانو باندې مړ جانانه
دلته کښې هر ګل ځان مُسکے نيولے

خيال مې ماشوم غونډې د ګوتې په شان کلک ونيسه
چې درنه ورک نشي پردی وطن کښې
نوے تصوير د پښتونخوا مې په ځان کلک ونيسه
چې درله وينه جوشوی په تن کښې
د پردی کلی رڼاګانو باندې مړ جانانه
راشه زمونږ سيمې سپرلے نيولے
د ښکلو ښلکو خنداګانو باندې مړ جانانه
دلته کښې هر ګل ځان مُسکے نيولے
ستا د غندل غندل خيالونو ترجمان يمه زۀ
راشه زما په ځان کښې ځان اوګوره
ستا د خيالونو د رنګونو ګلستان يمه زۀ
راشه د زړۀ کور مې ودان اوګوره
غمژنه ښاده! سحراګانو باندې مړ جانانه
راشه زمونږ سيمې سپرلے نيولے
د ښکلو ښلکو خنداګانو باندې مړ جانانه
دلته کښې هر ګل ځان مُسکے نيولے

• • • • • • •

☆

دا دُنیا دې ستا شی زهٔ به ځم درنه په بله
مالـه د کفن غوټې بـه اوتړې پخپله

سترګې به مې پټې وی جانانه تابه نهٔ وینم
تا چې کله وینم بیا دُنیا به وی بدله

څلے چې مې جوړ شی نو بیا څلی له مې راشه
تهٔ هم پرې راواچوه یؤ مُوټے خاوره ګله

څوک چې مې خبر دروړی د مرګ وارخطا نهٔ شې
خواله مې لږ راشه دیدن وکړه څو څو ځله

زهٔ ښاد درته وایم چرته اوښکې دې توئې نشی
ما ستا د حصّې اوښکې توئې کړی د اوله

● ● ● ● ● ● ●

☆

نـــهٔ ویـــر پـړی لیـونـــے دے مـحبـت
ســرخـوړے دے سـرخـوړے دے مـحبت

کـهٔ احـمـق پـرې کـړی د خـاورو څلے جوړ
مــړ بـــه نشـــی تـل ژونـدے دے محبت

دُنـــیـــادارو د دُنـیـا نــه لاس چـاپیـر کـړل
د مـــئیـــن بـرخـــه سپـرلے دے مـحبت

مـــا خـو دېـرې هـڅـې اوکـړې پـه خپل ځـان
ســلامـی شـوم چـې ژُونـدے دے محبت

پـــه بــدن یـمـــه کـمـزورے ورتــه ښــادؔ
راګــوزار ئـــې کــړم زلـمــے دے مـحبــت

● ● ● ● ● ● ●

☆

مینه مې کړې ده بس نور څهٔ دی
په دې کښې وایه د پېغور څهٔ دی

کهٔ مینه نهٔ کوې صفا ووایه
د زړهٔ خبره ده، د زور څهٔ دی

لکه منصور ورته په دار نهٔ شومه
په سجدو ورته نسکور، څهٔ دی

په بوږنوونکو شپو کښې څنګه درشم
رانه چاپېره په هر لور څهٔ دی

بې وفا یاره زما و ستا ترمینځه
پاتې د کلی اؤ د کور څهٔ دی

د زړګی غم غلطوؤم وربانديې
ګنې شرابو کښې د سور څهٔ دی

ښادؔ د زړهٔ داغونه ښایه ورته
د ښکلی مخ خالونه تور څهٔ دی

● ● ● ● ● ● ●

☆

چې مې په فکر کښې جانان راغلے
لکه سپرلے په ګلستان راغلے

راشه دیدن راوړه ګل رنګه اشنا
زما په زړۀ باندې خفګان راغلے

په انتظار مې سترګې سپینې شولې
په ما د صبر امتحان راغلے

تُخم مې بیا د محبت وشیندو
شاړو میرو کښې چې باران راغلے

ښادۀ په خپله ترې ګلونه ټول کړه
سپرلے د لوری د جانان راغلے

• • • • • • •

# سندره

پـــه مــخ ښــکـــلا دې د حيـــاء څـلېږى
څــــار پښتـــنــــې ! ستـــا خـــووفـــا څـلېږى
کوکۍ دې مهٔ رنګوه          کـوکۍ دې مهٔ رنګوه

ستــــا انـــنـــګـو کښې چـورلګُـونـــه وهــى
د پښتـــنــــې خــــاوُرې پــــاخــــهٔ رنـګـونــــه
مـيـنـــه دې زړهٔ کښـې غـورځـنګونـه وهى
ورک پـه کښـې نـهٔ کـړې دغـه ښـهٔ رنـګونه
د قــــام لــــونـګۍ دې پــــه دُنـيــــا څـلېږى
څــــار پښتـــنــــې ! ستـــا خـــووفـــا څـلېږى
کوکۍ دې مهٔ رنګوه          کوکۍ دې مهٔ رنګوه

خېـر دے لـمـن بــانـدې ګـلـونـه جوړ کړه
خـــو چې اوچتـــه وى شَـمـلــــه  د پښتـــون
بـيـا مــې پـــه ويـنـــه خپل رنګونـه جوړه کړه
زړهٔ کښـــې دې رانشـــى ګـيـلــــه د پښتـــون
مُــــدام نـــــرۍ کـښې نامــه ستـا څـلـېـږى
څــــار پښتـــنــــې ! ستـــا خـــووفـــا څـلېږى
کوکۍ دې مهٔ رنګوه          کـوکۍ دې مهٔ رنګوه

چې نومورے شی عزت د پښتون
بیا دې ګلونه په اوربل وُتومبه
که ښکلے نهٔ وو محبت د پښتون
خنجرې ښادٓ له په ګوګل وُتومبه
نهٔ به ئې تُورې ستوری بیا ځلیږی
ځار پښتنې! ستا خووفا ځلیږی
کوکی دې مهٔ رنګوه کوکی دې مهٔ رنګوه

• • • • • • •

# دریئیزه

موسیقاروې ډیر خوندوُر کلام دے
ما وئیل اولس ته ئې ډالی کړه کنه
وئیل یې درې زره خرچه پرې راځی

• • • • • • •

☆

نه ئي ادا وينمه
نه ئي خندا وينمه

په تورو تورو شپو کښې
نه ئي سبا وينمه

نه په جومات کښې شته دے
نه ئي په صحرا وينمه

اوس پسې زړونه لټوم
امير ګدا وينمه

زه ئي په مخ د انسان
لږه رڼا وينمه

چې ليونے کړم فکر
شاد ئي ريښتيا وينمه

• • • • • • •

☆

پـــاګـــل ســړيــه ! نشـې څــۀ لــه کـوې
مـيـنـــه خـوره کـــړه غـصـې څـۀ لـه کوې

ســـوچـــونـــه مـــۀ کـوه تـوکـل پـرې کـوه
هســـې عبــث تـــلـوسـې څـــۀ لــه کـوې

يـــۀ ځـــل اظهـــار د مـحبــت خــوکـــړه
پـــسِ شـــا مـــانـــه ګـيـلـې څـۀ لـه کوې

تيـر شـوے وخـت پـه چـا واپـس نۀ راځـی
ځـــان کړَ مـنـد کـــړه مـــزې څـۀ لـه کوې

ښـــادهٔ ژړاکـــوه پـــــه درئـــې مــدام
عيـــش و عشـرت تـمـــاشې څـۀ لـه کوې

● ● ● ● ● ● ●

☆

جـانـان خـو څـهٔ کوې دُنیـا مـې سېـزی
عشــق کښــې فـدا جـدائی بـیـا مـې سېـزی

ستـا پـه جـفـا مــې هېڅ پـروا نشتـه دے
یـمـه صــادق خپـلـه وفـا مـې سېـزی

زمـا ژونـدون ئــې پـه لـمبـو نـیـولے
هســې د میـنـې پــه سـزا مــې سېــزی

پتـنـګـه ځـان دې پـهٔ جـار څـهٔ لـه سېـزهٔ
نـن ستـا پـه شـانتې خپل اشنـا مې سېزی

غــوښــې دوږېـږی لــه هـډونـو زمــا
یـمــه حېـران کـومـه ګـنـاه مـې سېـزی

مــخ رانــه واړوه نــو اوخــانـده بـیــا
مـخـامـخ ستـا دغـه خـنـدا مـې سېـزی

زهٔ ښـادّ دې هـر ظـلـم زغـمـلے شـمـه
خـو بـې رُخـی جـانـانـه ستـا مـې سېـزی

• • • • • • •

# مورته

عزت دې لوے دے په رشتو کښې مورې
پروت دې جنت دے ځکه په پښو کښې مورې

د مینې تول دې زۀ کولے نۀ شم
دے سپکاوے په یادېدو کښې مورې

زۀ به دُعا د لویه خدایه غواړم
مقام دې شَه ښو مرتبو کښې مورې

• • • • • • •

## درېئيزه

وې بس دے پرېږده مړه څۀ ترې غواړې

ما وې لا ځوان یم څۀ بوډا خو نۀ یم

وې یې ثواب ډېر دے د ځوان د برېرې

• • • • • • •

☆

مینه په جار کوئ نفرت مه کوئ
توهین د مینې د عظمت مه کوئ

زړونو کښې اونغاړئ خلوص او وفا
هېڅکله هم منافقت مه کوئ

زه خو پښتو او پښتانه یادوؤم
راته د بل یؤ قام صفت مه کوئ

جرګې کوئ خو د انصافه سره
د ظالمانو حمایت مه کوئ

ښکلو چې چل د محبت نهٔ درځی
شاد ته اظهار د محبت مه کوئ

● ● ● ● ● ● ●

# سندره

د کلی پېغلې کارېزو پسې ځی

د غـــره لمنو کښې سندرې وائی

لېونے زړه مې په هغو پسې ځی

د غـــره لمنو کښې سندرې وائی

د غره لمنې به رنګینې کړی اوس

ښکلا به ډېره دا شرینې کړی اوس

دا د ښائست په زیاتېدو پسې ځی

لېونے زړه مې په هغو پسې ځی

د غـــره لمنو کښې سندرې وائی

په تېکنۍ غرمه د کوره اوځی

د غریبۍ د ډېره زوره اوځی

وطنه تاله خوشحالو پسې ځی

لېونے زړه مې په هغو پسې ځی

د غـــره لمنو کښې سندرې وائی

ستا د هر چا سره سیالي جوړوی
وطنه تاله خوشحالي جوړوی
دا د غربت په ختمېدو پسې ځی
لېونے زړهٔ مې په هغو پسې ځی
د غرهٔ لمنو کښې سندرې وائی

چې په ملاترړئې دا هېواد آباد شو
په دُعاګانوئې نن ښادَ آباد شو
په هر قدم په پخوانو پسې ځی
لېونے زړهٔ مې په هغو پسې ځی
د غرهٔ لمنو کښې سندرې وائی

• • • • • • •

☆

ښــه ده چې ړانـدهٔ دی ګـنـی یـار خـو مې ډېر ښکلے دے
ډک د غـــمـــــازانــو دا د خــړو خـــاؤرو کــلـــے دے

تــهٔ د پـیـو مـجـنـون اؤ پــه مـجـنـون کښـې لږ تمیز وُکړه
څـوک دے ؟ چې تش وخت تېروی څوک په زړهٔ داغلے دے

څـو کــالــه پــس سلام تــه دې حـاضر شومـه جـانـانـه
هـر ذهـن کښـې د سـوال وو پــه کـوم عـرض راغلے دے

تـــا یـــوه بُـوســـه بـــانـدې د خپـل مـراد مُـریـد کـړمـه
ځـکــه مــې ژونـدون جــانــانــه سُور اور تـه نیولے دے

خپـلـــه ډیــر ســاده ئــې نـو زمـا ژونـد دې سـاده کـړلـو
ښــادؔ شــوم چې غـزل مـې پــه ســاده حُسن لیکلے دے

● ● ● ● ● ● ●

☆

ما د مینې په لار پرېږده چې حلال شم
دار ته خېژم چې قابل ئې د وصال شم

ما ئې لوبې د جمال په مخ کؤلې
دا ئې حُسن ځلینده دے یؤ کمال شم

د جانان اؤ زما مینځ کښې فرق څۀ دے
کیفیات چې راخوارۀ کړی نو جلال شم

چې په جام کښې د خپل حُسن نشه کېږدی
وائی شاد چې په نشه شمه جمال شم

• • • • • • •

☆

بیــا دې پــه مـیـنـه ځان سولی ته خېـژوم
نـن دې تـصـویــر د خـیــال ډولی تـه خېـژوم

پـــه هـــره پـــانـه ئې د مـیـنـې رنګ دے
د پــــر یـــرو وُنــــه بـلی تــــه خېـــژوم

مــخ دې پــلــؤ کښــې رانــــه مـــهٔ پټـوه
ښــکــلا د ستــرګو دې کـعـکی تــه خېـژوم

لـــکـــه کــونتــرې بـــه غــور یــږو دواړه
خــواږهٔ اخــلاق بـــه دې کــوکی تــه خېـژوم

هــریــؤ قــدم د فـکـر ښـادَ بـــه دې شــی
د خـیـــال تـالــونــه دې سپوږمی تـه خېـژوم

● ● ● ● ● ● ●

# سندره

خـال دې پـه مـیـنځ کېږده د وریزو د اختر مخه ده
لاسـونــه سرهٔ کـړه پــه نـکـریزو د اختر مخـه ده

نـیـولـی شـونـډو دې پاڼونه خوشحالی جوړه کړه
غړې غندل کړه په همزولو کښې سیالی جوړه کړه
آرزو پـوره مـې کـړه دا مـیـنــه مشــالی جوړه کړه
غـمـونــه پــرېږده د کـلـیـزو د اختـر مخـه ده
لاسـونــه سـرهٔ کـړه پــه نـکریزو د اختر مخـه ده

لـږه مُسـکی شـه تـرې مـزې د خـوشحالی واخله
لــکـــه د زرکې څـو قـدمــه ګـلالی واخلـــه
د سپـرلـی ژونـد نـه مـې ګلان ډکه جولی واخله
ځـان دې حسـاب کـړه په غوریزو د اختر مخه ده
لاسـونــه سـرهٔ کـړه پــه نـکریزو د اختر مخـه ده

ټـال ټـال ځـوانـی دې پـه ټـالـونو باندې وزانګوه
خپـل ارمـانـونـه د اختـر پـه رنګ کښې ورنګوه
زمــا د خـیـــال اؤ د خپـل حُسـن مزی او جنګوه
ســاده ښـکـلا شـــه د غـرئـیزو د اختر مخـه ده
لاسـونــه سـرهٔ کـړه پــه نـکریزو د اختر مخـه ده

په وسوسو کښې دې ژوند مۀ تېره وه پېغلې جينۍ

د غـم تـيارو کښې ځوانی مۀ ګېروه پېغلې جينۍ

تـل مـې د مـيـنـې نغمې مۀ هېروه پېغلې جينۍ

فـضـا ده ښـکـلـې د رنـګـيـزو د اختر مخـه ده

لاسـونــه سـرۀ کړه پــه نـکريزو د اختر مخـه ده

زۀ مسـافـر د زړۀ زخـمـونـه سېزم بل وطن کښې

مـدام اختـر کښـې ارمـانونه سېزم بل وطن کښې

نـن په رښتيا دې ښادؔ لوظونه سېزم بل وطن کښې

عمل مې وُکړه په وړانديزو د اختر مخه ده

لاسونه سرۀ کړه په نکريزو د اختر مخه ده

● ● ● ● ● ● ●

کـوربـانــۀ شـو ستـا يـادونـه مې د ځان شو

اوس راځــه يـاره چـې يـؤ بـل نـه قربان شو

مـا خېـژئ دار تــه فـکـرونــه جلاتيان شو

څـۀ بـه ښـادؔ شـی د چا هېر چې اوليان شو

● ● ● ● ● ● ●

☆

ستـــا چــې وعــدې داســې پـخـې شـولــې
غــوځـــې مــې تـولــې وسـوســې شـولــې

اوس بـــه ستـــا درتـــه زهٔ جـرگــې درولـم
ووچتـــې ستـــا چـــې مـــرتبـې شـولــې

خپــل اؤ پــردی بـــه درنـــه کـړمـــه لـوگـے
ستـــا پیـــرزونـــې راپســـې شـولـــې

مـــاتـــه دې وُښـودل ظـــاهـــر اؤ بـــاطـن
څـــهٔ عــجـیبـــه شـــان ننـدارې شـولــې

پـــه لیـونـو کښـې ځـان حسـاب کـړه ښـادَه !
چـــې دې بـــدلـــې ورځـــې شپــې شـولــې

• • • • • • •

☆

چي مسافر شوم ما نصيب ته ژړل
تا ژړل ځان ته کۀ رقيب ته ژړل

په تـوله لار مې اوښکې اوچې نۀ شوې
ما د وطن دې حال غريب ته ژړل

هر يـو نـزدې قدم د تګ شو لرې
ما د حالاتو دې ترتيب ته ژړل

د ژوند له پانړو بيا رنګونه لاړۀ
سترګو مې ستا تصوير عجيب ته ژړل

په دُعا ګانو دې له خدايه غواړې
په توره شپه کښې شادّ حبيب ته ژړل

● ● ● ● ● ● ●

☆

خدایه خیر کړې مینه څومره شوله ګرانه
مئینان پکښې راپرېوتل بې ځانه

کوتګی چې ما اؤ تا به جوړولې
دا د لوبو دُنیاګی مو کړه چاورانه

څۀ به خوند شی د سپرلی، په دغه دشتو
خبر نۀ یم د سپرلی اؤ د خزانه

موسمونه راته واړه په یؤ رنګ شول
تپوس وکړه د مینې رنګ د چانه

د بې پته یار په یاد اؤ تصوّر کښې
ما د مینې یؤ جونګړه کړه ودانه

ښاده څنګه د صحرا غیږې له لاړې
راته وایه مینه ګرانه کۀ آسانه

● ● ● ● ● ● ●

# سندره

ساقي زهٔ نهٔ يم مېخانه نشه ده

دلته جامونو کښې شراب ګډيږي

نظر د ښکلو، مستانه نشه ده

دلته جامونو کښې شراب ګډيږي

دُنيا څنګېږي څنګېدلے نهٔ يم

لاخو ولاړيم غورځېدلے نهٔ يم

دا دې د مينې نذرانه نشه ده

نظر د ښکلو، مستانه نشه ده

دلته جامونو کښې شراب ګډيږي

څهٔ بوګنېدلي څنګېدلي تالي

دا خوبؤلي خوبؤلي تالي

دا حقيقت کهٔ افسانه نشه ده

نظر د ښکلو، مستانه نشه ده

دلته جامونو کښې شراب ګډيږي

مـیـنـې دې جـوړه کـړه قیصه لېونی

لېـونـے ښـاد دے کــۀ نشــه لېونی

د ژونـدون هــره پیـمــانـه نشـه ده

نـظــر د ښـکـلـو مستـانـه نشـه ده

دلتـه جـامــونـو کښې شراب ګډیږی

• • • • • • •

☆

دا خـو سپـنــا نــۀ ده چــې مـاتـه بـه شی

زمــا خـیــالـونــه پــه موجونو کښــې ځی

دا خــو یـۀ زۀ یـم چــې دې خـیـال سـاتمـه

زمــا عــزت ستــا مـحـفـلـونو کښـې ځی

تــا لېـونـے کـړم کــۀ دې خپـلـې میـنـې

چـې مـې مـنـزل خوشې دشتونو کښې ځی

• • • • • • •

☆

ورو ورو بـه دې راتـول كـړم تـهٔ مـې حُسن د جانان ئې
دانــه وانــه غــزلــه تــهٔ د مـيـنـې تـرجمـان ئـې

رڼـا ئـې د سپـوږمۍ سـتـورو د شپـې په خاموشۍ كښې
د سپـيـن سبـا اختـر ئـې تهٔ خوروور په ټول جهان ئې

هـر بـوټـي هـر شـجـر كښې ئې د لوړو غرونو سر كښې
مــرهــم د زخـمـي زړونـو د مـئـيـنـو پـه زبـان ئـې

هېـڅـوك دې د سـيالۍ نهٔ دي شاهان كهٔ زرداران دي
ستـا شـان تـه چـې زهٔ ګورم عاليشان ئې عاليشان ئې

جـمـال دې پـه جـلال كښـې څـر ګنديږي اؤ ځليږي
دا ځـكــه خو د شاد هـم پــه قـلـم هم پـه زبـان ئې

● ● ● ● ● ● ●

☆

تـهٔ چـې ئـې وائې ګله دا خبرې ستا خو نهٔ دی
دا دې غـوربـونـه چـا ډک کړی، د وفا خو نهٔ دی

ستـا پـه شېـرينه کوکۍ دا خبرې خوند نهٔ کوی
نـهٔ دی د زړهٔ د خـوشـحالۍ اؤ د خندا خو نهٔ دی

څـنګ راته وائې چې زما نهٔ دې زړګے صبر کړه
زړهٔ درکــومـــه دا خبـرې د سـودا خـو نـــهٔ دی

زهٔ بـه تـرڅـو دا ستـا د څـنـګـه سره سم ګرځم
درسـره مل مې دی خيالونه څهٔ جُدا خو نهٔ دی

رشتـيـنولو باندې دې ستړے کړمه څهٔ وکړمه
چـا بـه وی کړی څهٔ خبريمه څهٔ ما خو نهٔ دی

تاپسې اوس هم لا په سترګو کښې سُکان وی د ښادؔ
ګـنـی وختـونـه بـدل شـوی د ژړا خـو نـهٔ دی

● ● ● ● ● ● ●

☆

اوس مــــې وړې ارادې ځــوانــــې شـــولــې
ورانـــې د ژونـــد ورځـــې ودانـــې شـــولــې

لـــــه ژړاګـــانــومــې زړګـــے صبـــر شـــو
لارې د اوښـــکـــوپـــــه مـــخ ورانـــې شـــولــې

دا دې احســـان پـــه ځـــان کـــرم ګـنـمــه
شـــونډې مُسکۍ کړه خــوشــحـــاليــانې شولې

مبـــارکـــی بــــه خپـــل زړګـــی لـــه ورکـوم
د يـــارلـــــه مـخـــه رڼـاګـــانـــې شـــولــې

مـــئـيـــنـيـدۀ شـــادۀ آســـان غـــونـدې وو
د يـــارانـــې خبـــرې ګـــرانـــې شـــولــې

● ● ● ● ● ● ●

# سندره

سترګي چې پټې کړم جانان لمبه لمبه شی راته

میني مې داسې غرغنډې کړې دی

په چغو سر شم لېونتوب مې يؤپه دوه شی راته

میني مې داسې غرغنډې کړې دی

فکر مې يؤسی تېر وختونو پسې

په هاغه ښکلو ماښامونو پسې

اوښکې مې ځاځی چې زوړ ياد ئې آئينه شی راته

میني مې داسې غرغنډې کړې دی

د عشق لمبو کښې لوغړن ئې کړمه

جُدا له ځانه کړمن ئې کړمه

پوره د کال هومره د هِجر يؤ لحظه شی راته

میني مې داسې غرغنډې کړې دی

د دُنیا کارونه مې لاسونه خېژی

د مئین زړهٔ نه مې دردونه خېژی

خوب مې تس نس شی چې خیالونه ورنده شی راته

مینې مې داسې غرغنډې کړې دی

نهٔ د اختر په خوشحالو پوهه شوم

نهٔ د سپرلی په تلو راتلو پوهه شوم

ښادؔ پرې ناښاد شوم پښه نیولے هر بنده شی راته

مینې مې داسې غرغنډې کړې دی

• • • • • • •

☆

نهٔ پوهېږمه په ځان
لېونے مې کړی جانان

کهٔ پېغور وی اؤ کهٔ تور
ستا دیدن زما ارمان

چې ستا مینې لېونے کړم
اوس مې کور دے بیابان

ترس چې ونهٔ کړې په ما
راله وُشلوه ګرېوان

ښادؔ ته وګوره تپه شو
تا چې ووې یا قربان

• • • • • • •

☆

خلقه روا ده ناروا نهٔ کوٶم
مینه کووٶمه څهٔ ګناه نهٔ کوٶم

وختونه تول زهٔ په هجران تیروٶم
فکرونه څنګه به زهٔ ستا نهٔ کوٶم

ماته د خپلې مینې زور معلوم شو
اوس به شکونه زهٔ په تا نهٔ کوٶم

د ژوند سفر دې رانه څنګ جُدا کړو
غلطی راښایه چې ئې بیا نهٔ کوٶم

نصیبه ډیر دې ژړؤلے یمه
د خوشحالی څهٔ تمنا نهٔ کوٶم

ښادؔ دې د راز خبرې راز کښې ساتی
پټ پټ لیکم په جارووینا نهٔ کوٶم

• • • • • • •

☆

ســاقــی زمــا قــاضــی شــو سـزاګــانــې راکوی
پــه جــام کښــې د شــرابــو بـلاګــانــې راکوی

د ډیرې مجبورۍ نه چې مې اوڅښل پوهه نۀ شوم
نشــه ، کــۀ بـیـمـاری ، کــۀ دُعاګانې راکوی

خُـمـار د مېـخـانـې راتـه پـه توره شپه څلېږی
سـاقـی مـې پکښې ناست دے رڼاګانې راکوی

پــه دغــه اداګــانــو خـوئـې غـم غلطوۀمـه
د شــونــډو پــه مُـسـکــا کښــې اداګــانــې راکوی

زۀ ښادَ چې کله خاندم کله ژاړم په محفل کښې
ســاقــی مــې خــنــدوی هــم ژړاګــانــې راکــوی

• • • • • • •

# سندره

پیـغـلـو سـرهٔ کړی د وطن درته لاسونه

دلتـــــه کښـــې را نـــــهٔ شــې اختــره

خـړ پـړ پـه خـاورو مسـافـر کؤم سوالونه

دلتـــــه کښـــې را نـــــهٔ شــې اختــره

هـلتــه کښـې ډېـرې خـوشحالی یؤسـه

د مســـــافـــر اوښــکـــې ډالی یـؤســـه

چـې پـه ښـکلا شی دچمن هاغه ګلونه

دلتـــــه کښـــې را نـــــهٔ شــې اختــره

هـلتـه کښـې ستـا پـه نوم ټالونه جوړئ

وړې وړې جــونـــې خـــالــونـــه جـوړئ

ټـولـو ســـاتـلـی ستـا پـه لاره ارمـانونـه

دلتـــــه کښـــې را نـــــهٔ شــې اختــره

لـــوے اؤ واړهٔ دې پـــامتـــه دار دی

بـيـــا درتـــه ټــول پــه انتـظـار دی

ستـا هـرکـلـی تـه غوړولی ئې دی زړونه

دلتـــه کـښــې را نـــهٔ شـــې اختـــره

ستـــاســو اختـر دې مبـــارک شـی

خېـر دے کـهٔ ښادٓ ورپـکښې ورک شی

مسـافـر نـهٔ غـواړم نـیـمـګړی ارمانونه

دلتـــه کـښــې را نـــهٔ شـــې اختـــره

• • • • • • •

☆

لاړم مسافر شوم له نظره مې پناه شولې
هېرې دې وعدې کړې اے جانانه بې وفا شولې

دلته کښې يوه ورځ هم د کال هومره تېرېږی اوس
سترګې دواړه سترګې زما سپينې په ژړا شولې

يؤ نظر کتو به دې جانانه پسرلے کړمه
چارې د قسمت دی چی اوس تۀ رانه جُدا شولې

ښکاری د وطن هره دره کښې مينه مينه مې
ځکه خو جذبې د وطن ، تن کښې مې پېدا شولې

ښادٓ يمه خوشحال يمه چې ستا په مينه پايمه
هر څوکۀ تيارې وې خو په مينه ستا رڼا شولې

● ● ● ● ● ● ●

☆

ځان رانه واخله خو جانان مه ئ اخله
نور مې د صبر امتحان مه ئ اخله

د غريبۍ نه غر کولے نه ئ شم
زما د ټول عمر ارمان مه ئ اخله

يو غلطی راته په ګوته کړه ته ئ
لاسونه بيا مې له ګرېوان مه ئ اخله

چې خريدار دې کړم حساب د حُسن
تشو کتو باندې تاوان مه ئ اخله

بيا ئې بازار د حُسن وُلګوؤ
پکښې سودا ښادۀ د زيان مه ئ اخله

• • • • • • •

☆

ځـوانـی خپلـــه مـــې د حُسن ستـا نذر کړه
چـــې دې جـوړه تـمـــاشـــه پـــه مـازيګر کړه

لاس د زنـې لانـدې کښېـنـــاستـم حېران شوم
عـــجـــيبـــه شـــانتـــې سـودا دې راپسر کړه

پـــه اظهـــار د مـحبـــت مـــې پوهـه نـۀ شوې
سره لـمبـــه دې رالـــه پـورتـــه لـــه ځيګر کړه

مـــا د خپـلـــه لاســه وُکړۀ پـــه خپـل ځان
لاره غـــوره مـــې ازغـــنـــه د ســفـــر کـــړه

لېـــونـيـــه ښـادۀ بـيــا بــه ژونـد تـمـام وی
کـــۀ پـرده د مـخـــه لـرې دې دلبـر کـــړه

● ● ● ● ● ● ●

# سندره

خُلهٔ کښې چې ګوته لږونې اونیسی
مینه مې اوږاړی سلګۍ اونیسی
خو ناغرضه کړمه ځان پهٔ زړګی
قلم راواخلمه غزل اولیکم

بیا تنهائی ګورم نشه نشه یم
د خپله ځانه ناخبر ګرځمه
کهٔ وی اختر خو زهٔ خفه خفه یم
کهٔ پهٔ سپرلو کښې په چکر ګرځمه
وجود مې مړه تبه تنکۍ اونیسی
مینه مې اوږاړی سلګۍ اونیسی
خو ناغرضه کړمه ځان پهٔ زړګی
قلم راواخلمه غزل اولیکم

زړګے مې او بورنیږی اُویرېږم
ډېر وار خطا شی بیا ټوپونه وهی
اوښکې مې وُبهیږی اوژړېږم
مینه مې زړهٔ کښې غورځنګونه وهی
کهٔ مرګ مرۍ مې پهٔ ځوانۍ اونیسی
مینه مې اوږاړی سلګۍ اونیسی
خو ناغرضه کړمه ځان پهٔ زړګی
قلم راواخلمه غزل اولیکم

مـیـنـه کښـې داسې څۀ وختونه راشي
بـیـا امتـحـان تــه پښـه نېولے شمــه
ستـرګـو کښـې بـیــازما رودونــه راشي
سـلـګۍ وهـمـــه ســاه نېـولے شمــه
راتــه چـې نـخښــې پـخوانۍ اونیسي
مـیـنــه مــې اوژاړي سـلـګۍ اونیسي
خـو نـا غـرضــه کړمـه ځان پـۀ زړګي
قــلــم راواخـلـمــه غـزل اولـیـکـم
شـیـن د خـنـدا نـه بـیـا پـه شا واوړمه
د خپـل ارمــان قتـل پـخپـلـه اوکړم
زۀ لېـونتـوب تــه یـۇ ځل بیـا واوړمـه
مـیـنــه چې ښادٙ د زړۀ د تـلـه اوکړم
لارې د تګ مـې کـړنـــدۍ اونیسي
مـیـنــه مــې اوژاړي سـلـګۍ اونیسي
خـو نـا غـرضــه کړمـه ځان پـۀ زړګي
قــلــم راواخـلـمــه غـزل اولـیـکـم

● ● ● ● ● ● ●

☆

دا چې سوے سوے ښکارم، محبت مې تن سېزلے
تۀ خبرې راته مۀ کړه، زما روح د تنه تلے

ډېرې ډېرې ئې ايرې دی، حېرانېږې ورته څۀ له
مات کودی ورته راغوندۀ کړه دا دے ستا د مئين ځلے

د خپل حُسن په ديدن دې، رقيبان واړه مارۀ کړه
تۀ کوه پرې ډېر نازونه ربّ درکړے حُسن ښکلے

ښادۀ! صبر وظيفه کړه نور به ښاد شې کۀ رب کاندی
ستا اثر د دُعاګانو دے منزل ته رسېدلے

• • • • • • •

☆

شته مئین په مینه هم د جنګ خلق
اوسی په دنیا کښې رنګا رنګ خلق

هر پښتون ، پښتو ته چې شاه کړې ده
څهٔ به په چا اوکړی دلته ننګ خلق

کرکه له انسان نه اوس انسان کوی
داسې شُو بدل داسې بدرنګ خلق

مینه کښې زما خو هیڅ کمے نهٔ وو
چا رانه جدا کړل خپل د څنګ خلق

دې نشې ته بله نشه نهٔ رسی
جام کهٔ په سر واړوی د بنګ خلق

ښادهٓ ډیر ساده ئې چې ئې خپل ګڼې
زړونه درته ډک ساتی له زنګ خلق

• • • • • • •

☆

مطربه! بس نۀ کړې غزل پاتې دے
لا خو د یار په تندی ول پاتې دے

لکه رباب څکه نغمه نغمه شوم
لا خو رباب دې په څنګل پاتې دے

اوښکې دې تېنګې کړه چې اونۀ څاڅي
شهباز په لاس دې له ازل پاتې دے

سترګې ئې ورغلې اودۀ شول خلق
څنګ کښې دې یؤ مئین پاګل پاتې دے

ښکلې چې ستائی په رنګین محفل کښې
دا دې په ښاد یؤ لوے بدل پاتې دے

• • • • • • •

☆

ساه دې خپله واخله غم لړلے ژوندون څۀ دے
غوڅ قطره قطره شوم دلته ماله سکون څۀ دے

بیل شومه د ښکلو اؤ د خپلو اؤ پردونه
پټ پوټی یم نو ښکاره دې بېلتون څۀ دے

وینې د زړګی مې په وښکو باندې بهېږی
مینه نوره څنګه وی د مینې لټون څۀ دے

ښکلی ارمانونه مې په خاورو کېنې خړپړ کړه
خوند راکوی ماله په دې خوند کېنې جنون څۀ دے

ښاده! شې په داربه چې منصور غوندې جوړېږې
په خُله لیلیٰ لیلیٰ وه د عربو مجنون څۀ دے

● ● ● ● ● ● ●

☆

ستا لمن صفا ده په لمن زما داغونه دی
مه مې راځه خواله زما خواکښې تهمتونه دی

وخت د پسرلی کښې به ځان پټ ساتې جانانه
ګوتو د اغیارو شوکولی ډېر ګلونه دی

دغسې دِلبره زهٔ په خپل فکر کښې ډوب ښهٔ یم
زړهٔ مې سمندر دے او ستا مینه ئې موجونه دی

مینه چې څرګنده نهٔ کړې جوړه تماشه نهٔ کړې
مینه کوه پټه پټه دې کښې پېغورونه دی

زهٔ چې په کاغذ باندې شعرونه سوی لیکمه
ښاده اشعار نهٔ دی د غمژن زړهٔ فریادونه دی

• • • • • • •

# سندره

د محبت ثانی هلکه اختر ځنګه تېر شو

د غریبۍ د لاسه وُرکه اختر ځنګه تېر شو

د اختر شپه وه ما خو ډېر ډېر یادولې کنه

سترګې مې پټې ترسبا نهٔ کړلې

ستا د تصویر پاڼې مې زړهٔ پورې نیولې کنه

خو بس خبرې تصویر ستا نهٔ کړلې

خپله قصه خو لږه اوکه اختر ځنګه تېر شو

د غریبۍ د لاسه ورکه اختر ځنګه تېر شو

دلته نشې اؤ تماشې وې خنداګانې کېدې

ما دماتم د رنګ جامې کړې وې

دلته د زړونو له تلونو خوشحالیانې کېدې

په ما دې غم ځهٔ علامې کړې وې

زما د سر و مال ملکه اختر ځنګه تېر شو

د غریبۍ د لاسه ورکه اختر ځنګه تېر شو

دا یـؤ خبـر د چا په خُلهٔ باندې پردے راغلے
ولــې زمـــا نـــه بېــزار شـوے ئـې څــهٔ ؟
چا خووئیل چې ستا په رنګ کښې ډېر کمے راغلے
ولــې زړګــیـــه بـیـمـار شـوے ئـې څــهٔ ؟

وایـه ربنتـیا له، ګل نازکه اختر څنګه تېر شو
د غـریبۍ د لاسـه ورکـه اختـر څـنګه تېر شو

بـس دے راځه نوره تابیا دې د راتلو جوړه که
پـــه جُــدایۍ کښـــې دې بـر بــاده شـومــه
ښادهٔؔ ! سـنـدره دې د زړهٔ لـه اسـوېلو جوړه که
د هــجــر غـېږ کښـې کــهٔ دریـاده شـومــه

د مـحـبـت د چـم مـلـکـه اختر څنګه تېر شو
د غـریبۍ د لاسـه ورکـه اختـر څـنګه تېر شو

• • • • • • •

☆

ما چې دې نوم کله په خُلهٔ واخستو
تا رانه ځان په دې صِله واخستو

دا مې په خپل ژوندون جلال کتلو
خوند مې زړګی پکښې ایله واخستو

تا چې رنګونه د جمال کړهٔ ښکاره
ما د یار رنګ پکښې هله واخستو

اول نادان ووم بې صبری وه زما
اوس مې کمال تر بنه ایله واخستو

دا لېونتوب دے، لېونے شوې ښادهٔ
شر دې د یار په یؤ ګیله واخستو

• • • • • • •

☆

دا دې دُعــا وه کــهٔ ښېرې وې درپـه در شومـه زهٔ
پـه خـړو خـاؤرو د عــربـو ، مسـافـر شومـه زهٔ

دا بـه قسمت وو ، د قسمت نه ګیله څنګه وُ کړم
ستـا پـه دیـدن پسـې قسم دے کورو کر شومه زهٔ

روژې د صبـر بــه زهٔ نـیسـم چـې زړګــے قلار شی
پـه خـوب کښې راشی راته وائی چې اختر شومه زهٔ

اول دې راکــړه تسـلّـی اوس مـــې تپوس نـهٔ کوې
درتـه ښادٌ وایـم پـه درتـلـو کښــې متاخر شومه زهٔ

● ● ● ● ● ● ●

☆

چې په سترګو دې ويشتل کړې دا ښهٔ نهٔ کړې
څهٔ له دومره ځورؤل کړې دا ښهٔ نهٔ کړې

چې په يؤ نظر زمانه ژوندون اخلې
بيا بيا څه له راکتل کړې دا ښهٔ نهٔ کړې

د ماښام اؤ د سبا په قېد کښې پايم
ژونده! داسې تېرايستل کړې دا ښهٔ نهٔ کړې

ښهٔ پوهېږې چې قيمت ئې لا زياتېږى
چې دې لوبې پهٔ اوربل کړې دا ښهٔ نهٔ کړې

ما خو زړهٔ رضا کولو ستا دپاره
تهٔ چې زړونه ماتول کړې دا ښهٔ نهٔ کړې

سپينې سپينې ورته وايه پهٔ زړهٔ پاک دے
چې د ښادؔ سره چل ول کړې دا ښهٔ نهٔ کړې

● ● ● ● ● ● ●

# سندره

مینه غواړم مینې ته لېواله یم
ستا د ښار ښائست ته خفه کېږم نه
زهٔ ساده جینۍ یم کلیواله یم
نور په هاغه دغه دې پوهېږم نه

سترګې کړمه تورې په رانجو باندې
شونډې دواړه سرې په دنداسه کړمه
اوتهومبم ګلونه په کمڅو باندې
جوړه په نکریزو بیا چاپه کړمه

پټه په پرده کښې یم خوسیاله یم
ستا د ښار ښائست ته خفه کېږم نهٔ

مونږ له خوشحالو کډې راوړی دی
مینه مو، ده زړونو کښې چپې چپې
دلته کښې سپرلو کډې راوړی دی
شنهٔ پټی زمونږه دی وربمې وربمې

ګرځمه سپرلو کښې بیا ملاله یم
ستا د ښار ښائست ته خفه کېږم نهٔ

دلته ګودرونو ته منګی راوړی
ستا د ښار کوڅو کښې داسې نشته دے
ښکلو پسې زړونه لېونی راوړی
هلته لېونو کښې داسې نشته دے

دې خړو باندو کښې زهٔ خوشحاله یم
ستا د ښار ښائست ته خفه کېږم نهٔ

کلی ته مې راشه تماشه وُکړه
خړ دی دېوالونه خو ډېر ښهٔ ښکاری
بیا دې د زړګی سره جرګه وُکړه
ښکلیه ! چې ښکلی درته څهٔ ښکاری

ښادهٔ مطمئینه دې دخیاله یم
ستا د ښار ښائست ته خفه کېږم نهٔ
زهٔ ساده جینئ یم کلیواله یم
نور په هاغه دغه دې پوهېږم نهٔ

☆

چې د مور نه ازاری شی
څهٔ ئې کار څهٔ ئې خواری شی
څهٔ به بیا مومی عزت بیا
چې روزګار ئې جواری شی
کهٔ په خپل عقل هوښیاروی
شادوګے د مداری شی
نهٔ به دلته ښادٓ آباد شی
نهٔ به ئې برخه اخری شی

• • • • • • •

# سندره

نــــهٔ زمــونـږ کلــے ګـل ګـل شــو
نــــــهٔ دا پــــورې بــــانـــدَګی
نـــهٔ سپـرلـے دلتـــه کښـې راغـلــو
نـــــــهٔ وړو وکـــــړې انــــګی

نـــهٔ نــصیب مـو سپـین سحـر
نـــهٔ مـــو وا خِستــل رنــګـونـــه
نـــهٔ قــلار زمــونـږ ژونـدون شــو
نـــــهٔ خـــونـد وکـــړو زنــدګی

نـــهٔ پـــوره شـول ارمــانـونــه
نـــهٔ پـــه ښـکــلــو شــو قــربــان
نـــهٔ مـضبـوط زمـونږ ایـمـان شـو
نـــــهٔ پـــوره پــــه بـــنــدګی

نـــهٔ څـــهٔ کـر د میـنـې وشـو
نـهٔ سیــالـی مـو پــه سیـالی شوه
نـــهٔ مـــو خپـلـــه سـادګی کـړه
نـــــهٔ شــــو رنګ پـــه ســـادګی

نـــهٔ بـــه ښـادّ شــمـــه مـئـین
نـــهٔ بـــه نـوره میـنــه وکـړم
نـهٔ ئـې خپـل ځـانتـه نـزدې کـړم
نـــهٔ مـــې زُلـفـو کښـې ځـنګی

# چاربېته

مرید: د کمال څۀ دُعاګانې راته ښايه
پير: توبه ګارشه اؤ په درکښې ئې ژړېږه
مريد: بس توبه ده نورزړګے مې نرم شوے
پير: شکرشکردے په تا ئې کرم شوے
مريد: کړې لارې دی دا وخت د شرم شوے
پير: تۀ پرې مۀ ورځه دوزخ ډېرګرم شوے
مريد: ظالمان دی د هرچا نه ظلم شوے
پير: نفس ئې غښ دے هرسړے محترم شوے
مريد: ده توبه مېړګاني راته ښايه
پير: نو ځه په نېغه لارپه سرکښې ئې ژړېږه
مريد: ساه مې خيژی بس نورزۀ ژړيدے نشم
پير: بس کړه بس ئې کړه زۀ دا اورېدے نشم
مريد: غريبی ده زۀ په نېغه لاره تلے نشم
پير: دا تقویٰ ده زۀ له دې اوړيدے نشم
مريد: لاس دې راکړه بس نورزۀ دريدے نشم
پير: لاس مې واخله زه هم تا پرېښودے نشم

مريد: لېونے شوم صحراګانې راته ښايه
پير: بس ورځه مکې ته ورکښې ئې ژړېږه

مرید: يـۀ حـديـث نـيـسـم چـې نېغه زما لارشي
پیر: چـې تـقـوىٰ کـوې دا يؤ بـه دې پـه کارشي
مرید: راتـه ښـايه خپر دے سر کۀ مې په دارشي
پیر: صبـر ډېر ښۀ دے چې خوئی دې مزېدارشي
مرید: هـاغـه څـۀ دی چې زما د غاړې هارشي؟
پیر: خپل عمل دے يا به هارشي يا به مارشي
مرید: ښادؔ ډېر ژړېدلې يم خنداګانې راته ښايه
پـیـر: کـر د ګـلـو کوه کـر کښې ئې ژړېږه
مرید: دکـمـال څـۀ دُعـاګـانې راتـه ښـايـه
پیر: تـوبـه ګـارشـه اؤ پـه در کښې ئې ژړېږه

• • • • • • •

# چاربېته

زړهٔ مې د عشق په منارو ولاړ دے
مينه پرې ډېرې زلزلې راولي

څهٔ له په مينه دې بېدار کړم کنه
چې سزاوار دې په ديدار کړم کنه
په تهمتونو دې داغدار کړم کنه
له خپل ژوندونه دې وېزار کړم کنه
په ښکلی حسن دې په دار کړم کنه
ستا نه قربان زهٔ دې خود دار کړم کنه

راته عالم په نندارو ولاړ دے
زړهٔ مې د عشق په منارو ولاړ دے
ستا بې رُخی، هجران دلې راولي
مينه پرې ډېرې زلزلې راولي

رانه غمونه ګېرچاپېر دی ګُله
چې مې کتلی په زورزېر دی ګله
ژړلی ما درپسې ډېر دی ګله
ښکلی وختونه رانه هېر دی ګله
زړهٔ کښې مې غشی تېر و بېر دی ګله
خيالونه ستا زُلفو کښې ګېر دی ګله

قاتل نظر د خمارو ولاړ دے
زړهٔ مې د عشق په منارو ولاړ دے
زلفې دامونه ولولې راولی
مينه پرې ډېرې زلزلې راولي

اوس د خپل ځانــه نـاخبريم کنـه
لـکـه مـجـنـون پـه شـاړو سريم کنه
د ښــائسـتــونـو يـؤ نـظـريـم کـنــه
دا چــې غـوځ شـوے پـه ځيګريم کنه
تــل دې پـــه مـيـنــه کورو کريم کنـه
غــواړم خـيــرونـــه درپـــه دريم کنـه

مــلـنګ د مـيـنې، پـه زارو ولاړ دے
زړهٔ مــې د عـشـق پـه منارو ولاړ دے
ويـنــې مــې زړهٔ لـــه غـلـغـلـې راولی
مـيـنـــه پـــرې ډيـــرې زلـزلـې راولی

زهٔ دې ســوچــونــو هــوائـی کـړم ګلـه
بـل دې غـمـونـو سـودائی کړم ګلـه
ځـنـکــه قبـولــه جُـدائی کړم ګلـه
مـيـنـــه بـــه نـوره سيوائی کړم ګلـه
غـوځـه بـه سـتـا بـې وفائی کړم ګله
لاره بـــه خـپـلـــه رســـائی کـړم ګلـه

ښــادِ دې مـدام پـه اشـارو ولاړ دے
زړهٔ مــې د عـشـق پـه منارو ولاړ دے
تـــنـــدې د زړهٔ لـــه تـل ولـې راولـی
مـيـنـــه پـــرې ډيـــرې زلـزلـې راولی

☆

ستا مینه زړهٔ کښې نغاړم اے د مینې سمندره
ملنګی ده ملنګی ده په تا ناز قلندره
ځار قلندرو قربان قلندر شهباز قلندره
تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی
مونږ ملنګان شُوُ دیوانه یُو
تهٔ وې رښتیا مونږ افسانه یُو
نوډک د کماله وې نواز نواز قلندره
ځار قلندرو قربان قلندر شهباز قلندره
تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی
ټول اولیاء مئین په دین دی
درځی په لاره ځی نیازبین دی
کارساز الله ته ئې استاذ استاذ قلندره
ځار قلندرو قربان قلندر شهباز قلندره
تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی
ربّ ته مې تل دی ژړاګانې
زهٔ ترېنه غواړم رڼاګانې
ښکاره چې شی د مینې دا پټ راز قلندره
ځار قلندرو قربان قلندر شهباز قلندره
تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی

ډېـــر لـــيـــونـــی دي مـــلـــنـــګـــان دی
پـــه مـــيـــنـــه ســـوزی پتـــنـــګـــان دی
څـومـره دي خپـل کـړهٔ پـــه ډېـر نـيـاز قلندره
ځـار قـلـنـدرو قـربـان قـلـنـدر شهباز قلندره
تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی
د فـــقـــيـــری لارې د ښـــادَ دی
پـــه تـــا مـــئـــيـــن واړه آبـــاد دی
خبـرې ئـې نـغـمـې شـوې د هـر ســاز قلندره
ځـار قـلـنـدرو قـربـان قـلـنـدر شهباز قلندره
تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی ، تهٔ ئې دم رنګ د علی

• • • • • • •

# طرحی نظم

(" د صحرا ونه " نومې کتاب باندې)

مـیـر د کاروان مې منتظر دے د صحرا ونې ته
تګ د مـنـزل مې خطا نۀ دے ځی رسا ونې ته

دغـه مـنـزل تـه بـه ملګرو دا ځان خپل رسؤم
زۀ بـه نـړۍ تـه د پـښـتـو کلتوریؤ ځل رسوم
پېـغـام د مـیـنـې بـه ئې بیا په هر دُرشل رسوم
د هـر ظـالـم سـړی ګـرېوان ته به منګُـل رسوم
جوړ د پښتون فطرت تصویر دے د حیاء ونې ته
مـیـر دکاروان مې منتظر دے د صحرا ونې ته

د صـحـرا دشتـې مـې د تګ لارې نیولے نشی
کـه سـفـر ګـران دے تلوسې مې ماتولے نشی
کۀ زۀ په دار شم خو پښتو مې څوک وژلے نشی
د سُـوراړا تـاودۀ بـادونـه مـې سېـزلے نشی
ځـی په غورځنګ د فکر روح د منتهیٰ ونې ته
مـیـر د کاروان مې منتظر دے د صحرا ونې ته

د هجران فکر مې تصویر د حقیقت جوړوی
د خیال رڼا مې د پښتو سره اُلفت جوړوی
مینه زمونږه به کاروان د صداقت جوړوی
کړی، کړی، زنځیر به تل د شاد همت جوړوی
ننګ د پښتو یم رسولے د وفا ونې ته
میر د کاروان مې منتظر دے د صحرا ونې ته

• • • • • • •

☆

د ګل غوندې وطن کښې راته ګرانه زندګی شوه
زمونږ د مسافرو څۀ ویرانه زندګی شوه

خانان د خپلې خاورې خپل وطن کښې به مېشته وی
غربته! ستا د لاسه په مونږ ورانه زندګی شوه

نړۍ سره اړم یُو هم د ځان سره جنګېږو
په داسې لېونتوب باندې حېرانه زندګی شوه

مونږ شاته کړُو د ځان غم د جانان غمونه ژاړو
بس پا یُو په یادونو د ارمانه زندګی شوه

خبرې مو سندرې شی سندرې ژړاګانې
حالاتو ته چې ګورُو له خفګانه زندګی شوه

چا باندې باور به کوو ښادهٔ! چاته وګورو
چې خپل رانه پردی شول د تاوانه زندګی شوه

• • • • • • •

☆

ګـنـګـوسـے مـې اوربـدلے کـۀ رښتیـا شی
بیـا زمـونـږ تـورې تـیـارې ژوند بـه رڼا شی

چـا وئـیـلـی د تـقـدیـر لـیک هم بدلیږی
هســې نــۀ شــې د ولـیــانوپـه دعـا شی

کــۀ حــالات مـو کـړی بـدل د مخ رنګونـه
نـوے رنګ بـه په ژوندون کښې راپیدا شی

کـۀ د نـورو پـه اوګـو نـۀ ګـورو مـیاشت ته
پــه نـظـر کښــې بــه زمـونږه هر څـۀ راشی

ښــادَه ! ځـان لـه د جـانـان نه دومره واخله
چـې څـۀ نورو له ترې ورکړې اؤ څۀ ستا شی

• • • • • • •

# سندره

سپرلیه! څو څو ځله راغلې خو په ښنګ تېرېږی
راشه وردې وردې مودې واړوه
زمونږ په خوا کښې په مستۍ اؤ په غورځنګ تېرېږې
مونږ مسافرو سره دېرې واړوه

ستا په راتلو مې د جانان سره وعدې کړې دی
راځه چې لاړ شُو د وطن په لورې
د قام ګلونو مې سپرلیه بیا سوکړې کړې دی
راځه چې لاړ شو د چمن په لورې
پښتانهٔ مینه درشیندی اؤ تهٔ په جنګ تېرېږی
راشه وردې وردې مودې واړوه

مونږه د زمکې په خوبون باندې ځان زیږ کړے
خو د جانان د اننګو په خاطر
پردی وطن کښې مزدورو باندې مو ځان مړ کړے
د خپلې ژبې اؤ پښتو په خاطر
د پښتونخوا سره په ضد لکه اورنګ تېرېږی
راشته وردې وردې مودې واړوه

زمونږ د برخې خوشحالیانې یې تالا والا کړې
څهٔ بې موسمه خزانونه راغلل
زمونږه مینې اؤ سیالیانې یې تالا والا کړې
چې مو په ډله کښې درزونه راغلل
ښادَه! راغونډ دې پښتانهٔ کړه چې په ننګ تېرېږی
راشه ورېدې ورېدې مودې واړوه
زمونږ په خوا کښې په مستی اؤ په غورځنګ تېرېږې
مونږ مسافرو سره دېرې واړوه

• • • • • • •

☆

پخت د پښتنو دے له ګرېوانه ګوتې اوباسه
بس دے نور قلار شه د افغانه ګوتې اوباسه

مونږ د مشرانو د شملو ښۀ ډېر عزت ساتو
مونږ پخپلو وينو کښې پخوا نه دا غېرت ساتو
مونږه په سينه کښې حوصلې اؤ محبت ساتو
دين د منکرانو نه ښکاره زړهٔ کښې نفرت ساتو
تا په خپلو کړو به کړُو ستومانه ګوتې اوباسه
بس دے نور قلار شه د افغانه ګوتې اوباسه

نۀ بغير الله نه بل طاقت مونږه وژلے شي
مونږ د صداقت وسله لرو نۀ موو هلے شي
نۀ موله يؤ بله شوکولے نۀ وېشلے شي
مونږه وېش د مينې کوو، نۀ مونږه سپړلے شي
ځه ورک شه، زمونږ د بدحشانه ګوتې اوباسه
بس دے نور قلار شه د افغانه ګوتې اوباسه

مـونږه کښې همت شته دے ، د ځان تپوس کولے شُو

مـونـږه پُښتـانـه يُـو پـه هر شان تپوس کولے شُو

دار تـه بـه سر کېږدُو هريؤ ځوان تپوس کولے شُو

مـونـږ دخپـل وطن پښتونستان تپوس کولے شُو

ښاد وئ يـقـيـن وُکـړه د ګـمـانـه ګوتې اوباسه

بـس دے نـور قـلارشـه د افـغانه ګوتې اوباسه

• • • • • • •

☆

يـوه كـلـيـمـه وائـى خـو جُدا نن مسلمان شو
جـوړې ډلـې ډلـې شـوې رسـا د چـا ايمان شو؟

څـوک اهـل حديث فرقه ده اؤ څوک شو تبليغيان ښکنې
ځـنـې ديـوبـنـدی شـولو اؤ څوک شو برېليان ښکنې
چـا پټـکـی تـړلـی دی اؤ څوک شو پنج پيريان ښکنې
څـهٔ پـاتـې مـوليان دی اؤ څوک شولو طالبان ښکنې
څـوک ځان ته سُنی وائی څوک شولو شيعه ګان ښکنې
بـيا څنګه بيليږی چې کتاب مويُو قرآن شو
جـوړې ډلـې ډلـې شوې رسا د چا ايمان شو؟

مـونـږه کـهٔ يـؤ ځـاے شـو نـو يـؤ فـکـر يؤ زنځير لرو
مـونـږه د کـعبـې پـه لـوری خپـل رسـولؐ اميـر لـرو
سـوچ فـکـر بـه مـونـږه کـوؤ زړهٔ، دماغ ، ضمير لرو
مـونـږه پـه بُـغـدادکښې د حسنؑ ، حسينؑ جاګير لرو
نـيت موصفا نهٔ دے نو منزل زمونږه ګران شو
جـوړې ډلـې ډلـې شوې رسا د چا ايمان شو؟

هـر سړے هوښیار دے هریؤ خپل ځانته عالِم وائی
نــهٔ څـوک د بـل چــا مـنـی اؤ نـهٔ د چـانـه کم وائی
بـل تــه نـصـیـحـت کـوی اؤ ”نــهٔ د چا منم“وائی
څـنـګه به یؤ ځاے شووئ چې شاعرپکښې صنم وائی
څـوک شُـو مـلـنـګان د علی دی پکښې دم دم وائی
څـهٔ بـه خـړه زمـکـه ځـانـتـه پـاس نوم د محکم وائی
اوس وایـه پـه خپله چې د چا علم ودان شو
جـوړې ډلـې ډلـې شوې رسا د چا ایمان شو؟

اے د مــخـــلــوقــاتــو ربــه !زهٔ درنــه دُعــا غــواړم
ختـمــې دا فتـنــې کـره درنـــه یـؤ نوم د هر چـا غواړم
زهٔ پـــه یـوه لار رَوانـــه دا قـــافـلـــه بـیـــا غــواړم
زهٔ جـنـــت دوزخ څـــهٔ کـوم زهٔ خـو سـتـا رضـا غواړم
ډک د خـوشـحـالـو نـه زهٔ هـر چـاله سپین سبا غواړم
زهٔ ښـادؔ هـمـېشـه لتـانـه خپـل ضـمـیر صفا غواړم
شـی اســان مـنـزل بهـچې روان مو دا کـاروان شو
جـوړې ډلې ډلې شوې رسا د چا ایمان شی ؟

• • • • • • •

# مینه

کۀ مینه نۀ وي ما به خوب لږ په ارام کړے وے
ما به سحر سبا په خپل جانان سلام کړے وے

ما به د فکر جال د وخته سوزولے وے ټول
خپل ارمانونه به مې سر ته رسولے وے ټول

ما په تېرو کښې به يوازې بيا ژړلے څۀ له
دځان د خوانه به دې ښکلو شوکولے څۀ له

د مينې سوال کښې به مې نۀ چاته يؤ جام نيولو
نۀ به فطرت راله دا خپل زړګے مدام نيولو

نۀ بې زارى به وه د ځانه نۀ د بل نه ګيله
د مينې لار کښې که مې نۀ وے د خپل مل نه هيله

اوس په تېرو کښې مې د اخپل زړۀ زۀ تيربستلے نۀ شم
د ښکلو مخکښې اوس په ډکه خُلۀ خندلے نۀ شم

مـا وئيـل ودانـه بـه شي ، ماته خو لا ګرانه شوله
دُنـيـا اؤ مـيـنـه مې په يؤ ځاے باندې ورانه شوله

جــذبــې د مـيـنـې ئې پـــه خـاؤرو خـړولـے نشـم
پـــه حېـــرانۍ ورتـــه قـلـم خُـلـــۀ کښـې نيولے نشم

يـوازې نـــاســـت يـمـــه ګـونېـږم د خپل ځـانـه سـره
مـــا امـوختـــه کـړو دا خپل ځـان اوس د زندانـه سره

فـکـرونـــه واړه دې راغـونـډ کـړه فـيـصـلـه وکړه نن
ښادهَ !پـه مـيـنـه بـه ئـې ښاد شې حوصله وکړه نن

• • • • • • •

# غُربت

مونــــږ د ماښـــــام وو
چــــې ســــلام وکـــــړو
پـس د سـلام نــه یؤ سړے پاڅېدو
وئــیـل پښتـنـو! یـوه خبـره کـوم،
ورتـــه پـــه قهـــر بـل سـړی ووئـیـل
تــاسو د سـوال نـه سم روزګار جوړ کړے
پـه هـر مـانځـهٔ کښـې خـامخا یؤ پاڅی
څـهٔ عـجیبـه شـانې بهـانـه جوړه کړی
لا کـلــه کـلــه پکښـې وژاړی څـوک
لـږ خـو هـمـت اؤ مـزدوری هـم کـوئ
بـې غېـرتی دربـانـدې زور کـړے دے
پـه لاسـو پښـو اؤ صحـت ښـهٔ روغ یئ
اخر تـهٔ کومې مجـبورۍ راوسـتـې
ستـا بـه کـاروشـی پـه دې لسو روپیو؟
څـــهٔ یـوه ورځ یـوه پیـره خـو نـــهٔ ده
تـاسو تـرې ځـان لـه سم روزګار جوړ کړے
روره زهٔ سـوال څــهٔ د پیسـو نـــهٔ کـوم
مــا د غـــربـــت نـــه خـلاص کـړئ

بس دے نور تنک شومه په دې ژوندانهٔ
پردے وطن دے درې کوړمې لرمه
یوازې تن باندې زهٔ څهٔ وکړمه
زما دوه ورونه په کابل کښې مړهٔ شول
په خپله نهٔ لرم اولاد نارینه
زهٔ یم میرات ، څهٔ د هاغو بچی دی
پوره یؤ لس جینکۍ دی په کور
یوازې زهٔ ورله ګټلے نشم
په انسانیت ئې سمبالولے نشم
تعلیم خو پرېږده د علاج څهٔ وکړم
قندار جامه ئې پوره کولے نشم
له بیمارۍ مې کور خالی نهٔ شولو
یؤ تن ناجوړه خامخا وی پکښې
ماله نور چل د زندګۍ نهٔ راځی
آخر مې دا یوه فېصله اوکړله
چې خېراتی دا جینکۍ ورکوم
پیسې ئې نهٔ اخلم په سر باندې
کهٔ د چا دوه د چا یوه پکاروی
ځان له ئې بوځئ خدمت پرې کوئ
ځان له ئې غټې کړئ

ځان له ئې کورته بوځئ
ځان له واده ئې کړئ
زه به ئې تپوس نهٔ کوم
داسې څوک شته دے خلقه !
ما له جواب راکړئ
څوک به تيار شی ورته؟
توبه ، توبه اے خدايا
دا زهٔ په دې غوروونو څهٔ اورمه
دا د غربت د لاسه
څنګه توری د ځانه خپلې غوښې
د بل جولی ته خپل بچی وروُلی
ما اوريدلی ماشومان خرڅيږی
دا غريبان خو پښتانهٔ بچی دی
په دې جُمات کښې پښتانهٔ ولاړ دی
په کښې غټان اؤ ښهٔ ماړهٔ ولاړ دی
اوس کفيلان به ئې د سر جوړ شی
خرڅ خو لا پريږده څوک ئې هسې نهٔ اخلی
غربت وهلی پښتانهٔ ماشومان

• • • • • • •

# برغیزه سندره

جینۍ: هلکه پیښوریه ! افغانۍ مینه به رانهٔ کړې
نو هسې به بدنام شو لېونۍ مینه به رانهٔ کړې

هلک: تاله سپرلی خپزه وطنۍ مینه به درکړمه
زهٔ ساده سړے یم پخوانۍ مینه به درکړمه

جینۍ: ستا د وطن سپرلی ژوندی دی
زمونږ رنګین سپرلی ئې مړهٔ په ډزو کړنه

هلک: تهٔ چې د غرونو ښائست راوړې
زهٔ به د سمې ځوانۍ اُور ته ونیسمه

جینۍ: چې غر دې خوښ دے برېت دې غټ کړه
بې برېتو نهٔ شی خپلولے منزلونه

هلک: چې دومره غټ پېغور دې راکړو
اوس به لونګۍ د پښتنو په سرومه

جینۍ: تش په لونګۍ به پښتون نهٔ شې
پُښتانهٔ غوښې ډُوړوی جانان ګټینه

هلک: وینه زما هم پُښتنه ده
انقلابی جذبې لرم تا به ګټمه

جینۍ: ما چې ګټې خو ځان به بائیلې
اوس مې په خاوره فېرنګیان پېرې کوینه

هلک: د فېـــــرنـــــګـــــى دې لاس ازاد وى
زۀ نـنـګـيـالـى بـابـا جـنـګـى لوے کړے يمـه

جينۍ: دا ستـــا بـــابـــا زمـــا بـــابـــا وو
خـو د فـطـرت جـنـګ مـې لتـا نــه بـيلوينـه

هلک: فـــطـــرت بـــه زۀ درلـــه بـدل کــړم
تـابـه قـائـيلـه زۀ پـه خپلـه مينـه کړمـه

جينۍ: ستـــا مـئـيـنتـوب مـې د زړۀ رنـځ شـو
پـه ژونـدانـۀ د دُنـيا اخـلـمـه لاسـونـه

هلک: چـــې دومـــره زر دې هـمـــت بـــائـيلـو
تـــاتـــه پـراتـۀ دى د مـنـزل غـټ پړاوونـه

جينۍ: پـــه هـــر پـړاؤ مـې ځـان قـربـان کـړو
مـنـزل د مـيـنـې پـه نظـر مې نـۀ راځـينـه

هلک: دا خـــو د مـــيـــنـــې انتهـــا ده
اوس لېـونتـوب بـه درنـه زر لاس تـاوهينـه

جينۍ: پـــه لېـونتـوب مـــې خـفـــه نــۀ يم
خـفـه پـه تـا يم چې بـه رانـکړې لاسـونه

هلک: د تهـــمتـــونـــو ډالـــــــۍ را وړه
زۀ بـه بـدل کښـې ځـوانـى خـپـلـه وُبخښمـه

جينۍ: چـــې زړۀ درکـــوم بـدل ئـې نـــۀ اخـلـم
مـالـه انـعـام د مـحبـت راکړه مـئـيـنـه

هلک: زمـــا بـــدن اؤ نـــوم خـــوستـــا دے
باقی عـالـم دې پـه دُنـيـا لـوېـږ کوينـه

جينۍ: نـو ښـادة لېـونيـه د ځـوانۍ مـينه به رانهٔ کړې
هسـې بـه بـدنـام شُـو لېـونۍ مينه به رانهٔ کړې

هلک: تـالـه سپـرلـی خېـزه وطـنۍ مـيـنه به درکړمه
زهٔ سـاده سـړے يم پـخـوانۍ مـيـنه به درکړمه

• • • • • • •

☆

وایــه ګلــه ستــا څـنـګــه تېرېږی وخـت
مــاتــه خـو هجـران کښـېږ لا اوږدېږی وخـت

هېــرېږ بــه کــړم څـنـګـه هغـه څو ورځــېږ
ژونـد کښـېږ خـو بــس دغـه رایادېږی وخت

ســر پــورتـــه کـــؤلـے تـرېږ زهٔ نـــهٔ شـمـــه
پېتـــے دے درنېـــږی لا درنېـــږی وخـــت

دومـــره دېږ خـيـــالـونـو لـــرېږ راوستـم
نـهٔ پـه مـخـکښېږ تلـے شم نهٔ ستنېږی وخت

کـــلـــه چـــېږ غـــزل تـــه دېږ غـــزل ووېږ
ورو پـــه ورو بـــه اوس ښـــادۀ بدلېږی وخـت

• • • • • • •

# سندره

چې مې کلي ته سپرلے اؤ جانان راشي
بیا رانجهٔ بنګړی دې راوړه بنجاری
چې زخمی زړګی له هغه درمان راشي
بیا رانجهٔ بنګړی دې راوړه بنجاری
که مې څنې سرو ګلونو ته پسخېږی
خو پښتون جانان مې ورځ په ورځ قتلېږی
چې مې سمې ته د امن دوران راشي
بیا رانجهٔ بنګړی دې راوړه بنجاری
دا چې وچې شونډې ګرځمه کړېږم
پښتنه مینه مې ژاړمه ژړېږم
کهٔ د وخت دې بدلېدو له مې توان راشي
بیا رانجهٔ بنګړی دې راوړه بنجاری
شنهٔ خالونه په سپین مخ به مې ګډېږی
نرمې شونډې لکه ګل به مې غوړېږی
چې په دشته د زړګی مې باران راشي
بیا رانجهٔ بنګړی دې راوړه بنجاری
ښهٔ زیاتېږی محبت ، ښادۀ !کم نهٔ دے
خو د سترګو تورولو موسم نهٔ دے
کهٔ په مینه پوهېدلو انسان راشي
بیا رانجهٔ بنګړی دې راوړه بنجاری

• • • • • • •

# سندره

په سمندر باندې دې واړؤلم ورک دې کړمه
چې په سرتوره دې خبرې کؤلې
ښۀ دروند سړے ووم د جرګو، جانانه سپک دې کړمه
تا چې په مینه کښې نخرې کؤلې
هغه نازک نازک وختونه مې هېرېږی کله
په زړۀ يې تېر کړم اسوېلی اوکړمه
هغه دروغ دروغ لوظونه مې هېرېږی کله
چې رابرڅېر شی اسويلی اوکړمه
ستا ستمونو سره لوبې کؤم کلک دې کړمه
تا چې په مينه کښې نخرې کؤلې
تا يادؤم ما يادوې کۀ نه هېر کړے دې يم
په چغو سر شم چې تصوير دې ګورم
ژوند مې عذاب دے چې په زلفو کښې ګېر کړے دې يم
اؤتر اؤتر شم چې تصوير دې ګورم
د هجر غبرګ ته دې ګوزار کړمه تيندک دې کړمه
تا چې په مينه کښې نخرې کؤلې

اوس چم په چم مې تپوسونه د هر چانه کوي
جورې په زړهٔ دې وربېدلے يمه
ماله دُعا غوارې سوالونه د الله نه کوي
اوس دې په زړهٔ کښې ځائېدلے يمه
آخر دې ښادؔ کړم چې د خپل حُسن ملک دې کړمه
تا چې په مينه کښې نخرې کوُلې
په سمندر باندې دې واړولم ورک دې کړمه
چې په سرتوره دې خبرې کوُلې

• • • • • • •

# دُعا

ډېر مـالا مـال ئـې کـړه دولـت چې غواړی
ښـــهٔ مشهـور ئـې کـړه شهـرت چـې غواړی

د نُـور نـــه ډکــه ئــې سـيـنـه کـړه خُدايـه
ستـــا ســره مـيـنـــه مـحبت چـې غواړی

پَـردې پــرې واچــوه چـــې راز ئــې پـټ شی
څـوک درنــه سَتــر د عـــزت چـې غواړی

د قـــلـــم تـــوان د مټــو زور ورکـــړه
هـغــه بې وســه لــه طــاقت چې غواړی

پــه ســر چــې لاس د يتيم څوک راکـاږی
ورلــه جـنـــت ورکــړه جنت چـې غواړی

ښــادهٔ لاهُـو دې شـــی پـــه خـړو اوبــو
لــږه دُنـيـــا پـــه آخـرت چـې غـواړی

• • • • • • •

# مننه

زهٔ دا خپلــه وړومبۍ شعري ټولګه "برخه" ستاسو ګرانو لـوستـونـکـو په خدمت کښې وړاندې کوم. فېصله په تاسو چې ورته په کوم نظر ګورئ. د دې کتاب په چاپ کولو کښې چې زما سـره کـومو قدرمنو ملګرو هر قسم مرسته کړې ده لکه آدم خان آدمؔ، مـحـمـد ګل منصورؔ، عبدالولی الفتؔ، شمس القمر قمر، آفتـاب مـانـکی وال، خالد حسرتؔ اؤ نصر الله عرف بابو. زهٔ د هغوی یؤ جهان مننه کوم.

ښاد شموزے


نورو ځان پوره کړو کټه پېژنی
خواره وی همېش د پښتنو برخه
ښاده بختوُر وو پخوانی خلق
شوه تالا والا د اوسنو برخه
ښاد شموزے
Expert GRAPHICS